

# وروستی هیله

نوره شعرونه

Ketabton.com

ډاکتر غلام فاروق میراحمدي

۲۰۱۵ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستۍ هیله

## نوره شعرونه

ډاکتر غلام فاروق میراحمدي

۲۰۱۵ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


خالق ته.......... 7
پټه خوله.......... 9
ګوته په غاښ.......... 11
اشنا.......... 13
د زړه خبري.......... 15
رنګارنګ.......... 18
کله هېر کله په یاد.......... 21
افغان ته خطاب.......... 24
انسان ته.......... 27
جنګ.......... 30
نه پټېږي.......... 32
ناکامي مه ګڼه لوي غم.......... 34
زه او ته.......... 36
د زړه قصه.......... 38
عشق.......... 40
خوب.......... 43
تنهایي.......... 46
بغاوت.......... 47
پاځون.......... 49
د هوس باران.......... 50

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وصال شپه................................................................................52
تقدیر..........................................................................................54
زما یار.......................................................................................55
ته چې را سره یې...........................................................................57
ځلور دیرش ګلان.........................................................................59
یوه شپه......................................................................................63
د نوي کال دوعا..........................................................................66
د پوهنې رابلل...............................................................................60
نیمه شپه......................................................................................70
شنې سترګې...................................................................................72
وروستۍ هیله...............................................................................73
خوار ماشوم.................................................................................75
پردی یار.....................................................................................77
د اشنا یاد......................................................................................79
د زلفو یاد.....................................................................................81
د زړه احساس..............................................................................83
ګل ته..........................................................................................84
نوې زړه مینه...............................................................................85
د ښکلې مخ ارمان.........................................................................87
جادو..........................................................................................77
یار..............................................................................................90

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه چې مین نه وي....................92
مازدیگر....................94
د میني باغ....................96
د گلو موسم....................97
د سترگو افسون....................99
په تیر پسې ارمان....................101
مور....................104
مور ته....................105
ورور....................108
دا خل....................110
نوی پیل....................111
شنه زمریان....................112
ترانه....................114
ملگری....................119
هیله....................121
پېغام....................123
بیاجوړونه....................125
تگ لاره....................127
ملگرو....................129
افغان....................132
د ژوند کاروان....................135

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه وينا......................................................................136
د کلي ياد......................................................................138
د شهيدانو ياد......................................................................141
بېزاري......................................................................144
زاړه يادونه......................................................................146
خدايي ښايست......................................................................148
ابدي عشق......................................................................149
ساقي ته......................................................................151
مينه څه ده......................................................................153
کاکا ته......................................................................155
کله......................................................................157
افسوس......................................................................160
د ژوند پرخه......................................................................162
وصيت......................................................................164
د ښځي مقام ته......................................................................166
اي صنم......................................................................168
خور......................................................................170
اختر......................................................................172
قلم......................................................................173
د زړه سوغات......................................................................174
د بوډۍ ټال......................................................................175

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابدي مزار.................................................................................176
سالګره........................................................................................177
کليزه.........................................................................................179

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خالق ته

ربه ستا شکرګذار یم
منت بار ستا د دربار یم
د نیستۍ څخه دي هست کړم    تا مومن یکتاپرست کړم
ستا د لطف چي سزاوار یم
ربه ستا شکرګذار یم
را پېدا دي مسلمان کړم    مفتخر دي په ایمان کړم
د حق دین ته وفادار یم
ربه ستا شکرګذار یم
قل هو الله هو احد يې    لم یَلدِ ولم یُولد يې
وحدانیت ته ستا اقرار یم
ربه ستا شکرګذار یم
ته خالق د جهانونو    ته مالک د اسمانونو
ستا د لاري خدمتګار یم
ربه ستا شکرګذار یم
هم شاهد زما د ګفتار يې    هم واقف زما په کردار يې
ستا د رحم طلبګار یم
ربه ستا شکرګذار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ګناه کړم ته بخښونکی        زه خطا ته لارښوونکی
خوار بنده زه ګناهکار یم
ربه ستا شکرګذار یم
د دنیا ژوند امتحان دی        امتحان د هر انسان دی
ستا کرم ته امېدوار یم
ربه ستا شکرګذار یم
ربه توان د عبادت را        د نېکیو هدایت را
په تکل د نېک کردار یم
ربه ستا شکرګذار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټه خوله

پټه خوله په خاموشۍ کي ګويا خوښ يم
د عالم نابينايۍ کي بينا خوښ يم
ازادي راکړه خالق په بندګۍ کي
په ازاده بندګۍ کي رضا خوښ يم
ازاد روح مي د تبعيض طلسم مات کړ
په څلورو کتابونو ملا خوښ يم
سرمايه زما د ژوند زما ايمان دی
د ايمان په دارايۍ کي دارا خوښ يم
که مي خيري د زاړه کميس ګريوان دی
د باطن په صفايۍ کي صفا خوښ يم
د دانا و دانايۍ ته تل نادان يم
د نادان و نادانۍ ته دانا خوښ يم
حقيقت مي ورک د بل په لاربنوونو
اوس د خپل ګمراه زړګي راهنما خوښ يم
نه طبيب، نه مي علاج، نه مي دوا سته
خپله خپل د زړه و درد ته شفا خوښ يم
نه مي اور سته،نه مي کور او نه مي کلی
زه په خپلي پاچاهۍ کي ګدا خوښ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېوي پر اور طواف زما قسمت دی
زه پتنګ یم د ډېوي په رڼا خوښ یم
په خپل زړه کي مي د مینې باغ ودان کړ
زه هم باغ یم ، هم باغوان ،هم بورا خوښ یم
سرو ګلونو ته نسیم د سپین سهار یم
د خپل بڼ پر سرو ګلونو شېدا خوښ یم
بې وفا ته که جفا د ژوند دستور دی
زه دستور ته د وفا باوفا خوښ یم
د دې جل و بل دنیا سره مي څه کار
زه په خپلي تنهایۍ کي تنها خوښ یم
خبر که راز د زړه رسوا پر ټول عالم سو
زه په داسي رسوایۍ کي رسوا خوښ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګوته په غاښ

عظمت ته د جهان ګوته په غاښ یم
ستر قدرت ته د سبحان ګوته په غاښ یم
بېله پېله، بېله پایه کائنات دي
دې وسعت ته د کیهان ګوته په غاښ یم
هر څه درومي، ثابت شی پر نړۍ نه سته
و سرعت ته د زمان ګوته په غاښ یم
پر بډاي او غریب وېش که ازلي وي
عدالت ته د اسمان ګوته په غاښ یم
یو یې ژاړي، بل یې خوند له ژړا اخلي
انسانیت ته د انسان ګوته په غاښ یم
خپل ریښنه په تېښه پرې کړي، په ځان ویاړي
جهالت ته د افغان ګوته په غاښ یم
د یوه ورور لاس د بل پر ستوني تاو دی
مهارت ته د شېطان ګوته په غاښ یم
برتري خو په تقوا او فضلیت وي
صراحت ته د قران ګوته په غاښ یم
په باطن کي پادشاه، ظاهر ګدا و
کرامت ته د رحمان ګوته په غاښ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر کوربه چي ځان په زوره څوک مېلمه کړي
فضولیت ته د مهمان ګوته په غاښ یم
د باران څخه ولاړ ناوې ته ناست یم
بدقسمت ته د خپل ځان ګوته په غاښ یم
چي فاروق په شعر څه وایي، پټ نه دي
وضاحت ته د زبان ګوته په غاښ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشنا

د دریاب د مخ ځپه یم د ساحل سره اشنا یم
د شبنم وړوکی څاڅکی د سره ګل سره اشنا یم
نه شکوه کړم له اغازه، نه ببربړم له انجامه
زه د دواړو جهانونو د عادل سره اشنا یم
پر زړه مینه عبادت وي، محبت خدايي نعمت وي
ملا ستا د دوږخونو د باطل سره اشنا یم
یوه حق، یوه کامل ته د سفر بې شمېره لاري
ناکامل په خپل سفر کي د کامل سره اشنا یم
یو ثابت، واحد، جاوېد دی نور څه دروميِ نه دريږي
پرون نن سي، نن سبا سي زه د تل سره اشنا یم
چي غرور يې د ځان شان وي، که سلطان هم وي نادان وي
د عاجز تر خرقي لاندي د عاقل سره اشنا یم
څوک په رنګ، مذهب او ژبې ځان تر نورو اصيل بولي
په چهره د منور کي د جاهل سره اشنا یم
څوک خپه له خپله ځانه، څوک يوازي د ځان خپل وي
زه د خپل د خپلولو د مشکل سره اشنا یم
څوک په خپل کي، په خپل ملک کي تر پردو بدتر پردی وي
زه پردی په پردي ملک کي د هر خپل سره اشنا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاته خپل د باغ ګلونه د وچ دښت تېره اغزي سي
زه د خپل دښت په اغزو کي د سنبل سره اشنا یم
چاته پند خپل تېروتني، چا ژوند تېر په تېروتو کي
زه د تېرو تېرونو د حاصل سره اشنا یم
یو تنها وي په محفل کي، بل پخپله محفل جوړ سي
زه یوازي په خلوت کي د محفل سره اشنا یم
یو د بل په درد دردمن وي،بل د بل په درد شتمن وي
زه فاروق د زړه د درد د هر عامل سره اشنا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه خبري

د تیارې پسې راتلونکی سپین سهار وي
د هر ژمي د یخنۍ پسې بهار وي
په هر مرګ پسې ژوندون ابدي راسي
نېک هغه چي د بل ښه ژوند سزاوار وي
لاس نیونکی که د خوار، کونډې یتیم سي
په دي ژوند د بل ژوندون سرمایدار وي
پرمختګ د هغه قوم ناشونی کار دی
چي یې یو مشر تر بل مشر غدار وي
یو ظالم له واکه پرېوزي بل حاکم سي
یو حاکم تر بل حاکمه جفاکار وي
لوي څښتن به لمونځ، روژه ورته معاف کړي
نه بخښونکی د مظلوم د زړه ازار وي
څوک به څنګه په رضا جومات ته مخ کړي
چي امام یې د مذهب او دین تجار وي
سپک ځان دروند ګڼي د ځان په صفتونو
دروند په پټه خوله په ټولو کي سردار وي
هوسا خپل د راحت ژوند څخه په تنګ سي
ستړی تل و راحت ژوند ته امېدوار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حریص مړ سي د خپل نفس په غلامۍ کي
جنتي ژوندون نصیب د پرهېز ګار وي
څوک د زړه په اخلاص نور قومونه خپل کړي
څوک د خپل قوم او قریب څخه بېزار وي
د پردو تر غلامۍ چي یې مرګ خوښ وي
تل ژوندی د خپل ټاټوبي افتخار وي
ښه دوستان پر سختي ورځي امتحان سي
د یوه دوست سرومال تر بل نثار وي
د مطلب یاران به ډېر درباندي ټول سي
ټینګ یاران د لاس د څوګوتو په شمار وي
بې وفا تر خپل مرامه وفادار وي
وفادار د ښې او بدي ورځي یار وي
کامراني او نیکمرغي د هغه چا وي
چي په برخه یې دوعا د مور او پلار وي
د منزل په لور د هر چا خپله لار وي
څوک وي باز د چا مېږي غوندي رفتار وي
ځوان هغه چي د لویدلي بار په شا کړي
نه چي خپله د بل سترې د شا بار وي
هوښیار پند اخلي له خپلو تېروتنو
د ناپوه پر جهالت باندي اصرار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمان غوښتني هغه څوک پوره کړي
چې په ژوند کې نوښتونو ته تيار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رنګارنګ

د سرو شونډو له خمه ډک جامونه رنګارنګ
پېکونه رنګارنګ او شرابونه رنګارنګ
ملکونه بېګانه راته اشنا د ژوند سفر کړه
ښارونه رنګارنګ او هیوادونه رنګارنګ
د هرځاي خپل منظر،خپله ښکلا، خپل طبیعت و
جګ غرونه رنګارنګ او شنه دښتونه رنګارنګ
د هرځاي خپل ساحل، خپله کښتۍ، خپل سمندر و
سیندونه رنګارنګ،د سیند موجونه رنګارنګ
د هر ځاي خپل تاریخ، خپل ثقافت، خپل تمدن و
قصرونه رنګارنګ او محلونه رنګارنګ
د هر چا به خپل جشن،خپل اختر، خپلې مېلې وې
سازونه رنګارنګ او محفلونه رنګارنګ
د حسن شاپېرۍ وې په هرځاي کي بې مثاله
خالونه رنګارنګ او سنګارونه رنګارنګ
چهري وې توري،سپیني،د سنګار ډولونه بېل وه
دودونه رنګارنګ او رواجونه رنګارنګ
د هر چا خپله لاره وه د عشق په جستجو کي
دینونه رنګارنګ او مذهبونه رنګارنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر ځاي د لېلا او د مجنون نومونه نور وه
نکلونه رنګارنګ او داستانونه رنګارنګ
د زړه د راز اظهار ته د هر چا وه خپله ژبه
شعرونه رنګارنګ او کتابونه رنګارنګ
د زړونو د پېوند اسرار په هر ځاي کي بل شان وه
فکرونه رنګارنګ او نظرونه رنګارنګ
د ميني او وفا نه د هر چا تصور بل و
قولونه رنګارنګ او قسمونه رنګارنګ
صادق زړونه د ميني تل پايښت ته په دوعا وه
نفلونه رنګارنګ ، عبادتونه رنګارنګ
د عشق په ګلستان کي زړه بلبل هزارداستان و
ښاخونه رنګارنګ او سره ګلونه رنګارنګ
پر زړه باندي د ميني د هوس توفان ځپاند و
خيالونه رنګارنګ او هوسونه رنګارنګ
سرحد د خوب و خيال او حقيقت راځخه ورک و
خوبونه رنګارنګ، واقعيتونه رنګارنګ
خوږې شپې د وصال وې که سپوږمۍ که تروږمۍ وه
خوندونه رنګارنګ او لذتونه رنګارنګ
په هر نظر د ميني کي ښکاره وه پټ رازونه
سوالونه رنګارنګ او جوابونه رنګارنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یار په تودې غېږې کي ربښتینی جنت پروت و
عشقونه رنګارنګ او وصالونه رنګارنګ
د عشق د بستر لوبي کله هسي، کله داسي
نازونه رنګارنګ، د عشق رازونه رنګارنګ
ما ولیده نړۍ د تنوع پر پښو ولاړه
شکلونه رنګارنګ او سیرتونه رنګارنګ
د رنګارنګ ګلونو څخه ښکلی ګلشن جوړ و
باغونه رنګارنګ او چمنونه رنګارنګ
په رنګارنګ نړۍ کي یو رنګي وه بېله رنګه
رنګونه رنګارنګ د رنګ رمزونه رنګارنګ
د میني درس مي زده کړ د دنیا له تنوع نه
صنفونه رنګارنګ، دژوند درسونه رنګارنګ
د ژوند پر خاطرو باندي بنا دي نوي هیلې
یادونه رنګارنګ او امېدونه رنګارنګ
د تېر ژوند پر کلونو زه فاروق پښېمانه نه یم
وختونه رنګارنګ، د ژوند کلونه رنګارنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله هېر کله په یاد

د هجران د اور داغونه کله هېر کله په یاد
د دردمن زړه فریادونه کله هېر کله په یاد
کله یاد کړم زموږ کلی،زموږ لوبې په کوڅه کې
د کوڅې خاورې،بادونه کله هېر کله په یاد
په ارمان،ارمان را یاد سې پټ،پټاني په باغوکې
په انګورو بار تاکونه کله هېر کله په یاد
کله یاد د اختر شپه کړم،شپه اوږده ناست ترسهاره
په نکروزو سره لاسونه کله هېر کله په یاد
زړه بې صبره منتظر و د اختر مبارکۍ ته
و یو بل ته سوغاتونه کله هېر کله په یاد
د خپل زړه ټکان مې اورېد د خبرو توان به نه و
ستا د سترګو پېغامونه کله هېر کله په یاد
کله بیا پر زړه پسرلی سې را په یاد د غرو لمنې
شنه دښتونه،اوچت غرونه کله هېر کله په یاد
د نوروز مېله په یاد کړم،د شبو بوی را په زړه سې
د پتروکو ژړ ګلونه کله هېر کله په یاد
کله ناست یم تصور کې ستا پر خنګ د سیند پر غاړه
د دریاب څپې موجونه کله هېر کله په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله زړه سوځي په اور کي کله پټ تر اېرو لاندي
ستا د شوخ نظر نازونه کله هېر کله په یاد
کله غوږ کي زمزمه سي ستا خوږې،خوږې خبري
د تل پاته عشق قولونه کله هېر کله په یاد
کله غرق سمه په خیال کي ستا د زلفو بوي په یاد کړم
ستا د مخ رنګين خالونه کله هېر کله په یاد
کله لمس پر خپل بدن کړم ستا د سرو شوندو ځایونه
د وصال د شپې یادونه کله هېر کله په یاد
کله بیا په خیال کي وینم ستا په غېږ کي خمار پروت یم
ستا پر سپین مړوند خوبونه کله هېر کله په یاد
کله ځان ته په ژړا سم تن مي دلته،روح مي هلته
لیري تللي کاروانونه کله هېر کله په یاد
عمر درومي نه دریږي شپې او ورځي په تلوار ځي
د زړه هیلي،ارمانونه کله هېر کله په یاد
یوه ورځ جدایي راغله رڼا ورځ پر موږ تیاره سوه
ستا د اوښکو بارانونه کله هېر کله په یاد
د تقدیر لوبي برباد کړه زموږ مینه، زموږ مېنه
قوم،قریب،خویندي او وروڼه کله هېر کله په یاد
د زمان په غبار پټي د ژوندون لوړې، ژوري
ورځي،شپې،میاشتي،کلونه کله هېر کله په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څه تېر بېرته یاد یږي، چي په یاد دي نه هېرېږي
پټ پر زړه پراته رازونه کله هېر کله په یاد
لږ ویلي ډیر څه پاته،د زړه حال چاته بیان کړم
د زخمي زړه پرهارونه کله هېر کله په یاد
د پاک رب نه د زړه هیله یو ځل بیا زموږ دیدن دی
شپه او ورځ عبادتونه کله هېر کله په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان ته خطاب

چې د قوم په ننګ راپاڅيد خوشحال خان شو
ننګيالی د زمانې شو ستر افغان شو
په يوه لاس کې قلم په بل کې توره
د جګړې او پوهې دواړو قهرمان شو
اکبر خان ،مسجدي خان که ايوب خان و
شهامت يې د ملت نوم او نښان شو
چې يې عزم د وطن د ازادۍ کړ
نو د شرق د اسمان ستوری شاه امان شو
که چا درک نه کړ په خپله زمانه کې
امانيه دوران مو وياړ د هر زمان شو
په عدم تشدد يې دښمن مات کړ
د افغان ملت بابا فخر افغان شو
تل په ياد ژوندي خدايي خدمتګاران دي
سپېڅلتوب ته يې جمله جهان حېران شو
چې افغان ولس يو موټی متحد و
تل پيروز و نوم يې لوړ پر ټول جهان شو
د هر غره دره يې پټه خزانه وه
د غره هر وجب يې لعل د بدخشان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هر څو وایم چې څوک وم ګټه نه کړي
تېر وخت نشته نن حاکم نوی دوران شو
که پخوا مي ګران وطن جنت نښان و
نن زما د افسانو وطن وېران شو
که مو هر ښار د ښارونو ناوکې وه
شینکی باغ مو نن په څېر د بیابان شو
چې یې یو د بل پر سر ټومبل مېخونه
بېرحمي ته یې حېران هر مسلمان شو
چې و ځانته خدمتګار د خلکو وایي
شو غلام او د پردیو په فرمان شو
که تاجیک، ازبک، پښتون که هزاره و
د نړۍ په هر یو ګوټ کي سرګردان شو
مېلمانه چې یې خپل کورته رابلل تل
اوس مجبوره د پردي کورو مهمان شو
پر افغان داسي حال هیڅ نه و راغلی
چې اسیر د ناپوهانو د زندان شو
د پردیو په خدمت ملي اتل شو
اتل نه شو خو ملګری د شېطان شو
د اسلام په نوم یې نوم د اسلام بد کړ
جنګسالار شو لوي دښمن د هر انسان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

که رهبر مو د هر حزب،د هر ګروپ و
و ملت ته د خیانت په لار روان شو
د افغان ملت په وینو کې لاهو شو
د هیواد ویجاړول یې د ځان شان شو
د قومیت په نوم یې ټوله قوم برباد کړ
کور ویجاړ،مکتب خراب،سړک یې وران شو
د افغان زویه راپاڅه نور بېدار شه
ته شوې پاته درنه لیرې ټول کاروان شو
په هیڅ شي کې د هیچا نه څه کم نه یې
نو دې ولې لاس د خپل ورور په ګریوان شو
سوې چیغې د یتیم او کونډې واوره
نور نو صبر او تحمل و دوې ته ګران شو
چې لا هم ته د نفاق پر لاره درومې
مخ دې تور شو تو لعنت دې پر خپل ځان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان ته

هسي چي راغلي هسي ځي له دي جهانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهيږي
خداي چي خاوند د بحروبر کړي
ته يې اګاه په خېروشر کړي
ځان درنه ورک سو ستا غرور سو تر اسمانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهيږي
خداي ته د انس شخه پېدا کړي
اشرف مخلوق يې د دنيا کړي
اوس د انسان دښمن سوې اي خواره انسانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهيږي
ورځ چي راتلونکې د قيامت ده
نېکي توښه د اخرت ده
په سپين کفن کي يې روان له دې مکانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که لمونځ،روژه دي په ریا وي
ستا عبادت به بې معنا وي
ګوره زړه پاک کړه ګوندي خداي شي مهربانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهیږي

په تواضع کي دي شوکت دی
په تکبر کي دي ذلت دی
رحمان دي هېر دی اطاعت کړي له شېطانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهیږي

خدایي خدمت خپل رسالت کړه
مینه ، الفت او شفقت کړه
یو څه خو زده کړه په دي باب له باچا خانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهیږي

د زړه د میني بڼ ګلزار کړه
په سرو ګلونو یې سنګار کړه
پام پر بلبل کوه د زړه د باغ باغوانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د ماشوم پر خوله خندا وي
که د یتیم پر زړه دوعا وي
هله نو وایه چي راضي یم له وجدانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهیږي
عبث ژوندون دی چي تېرېږي
د سپین ږیرتوب وار رارسیږي
په سپین ږیرتوب کي تل پر زړه وي سل ارمانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهیږي
زه فاروق لار د حقیقت لټوم
ربښتینی راز د انسانیت لټوم
پاته پر زړه لرم دا هیله جاویدانه
خبر سه له خپل ځانه
افسوس چي نه پوهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنګ

شپه او ورځ د خپل نصیب سره په جنګ یم
د اغیار او د قریب سره په جنګ یم
چي دروغ راته رښتیا ،رښتیا دروغ سوه
د رښتیا او د فریب سره په جنګ یم
د ډیوي بله لمبه، د ګل اغزی سوم
د پتنګ او عندلیب سره په جنګ یم
چي صادق د خداي پر لاره روان نه دي
د هلال او د صلیب سره په جنګ یم
چي د حق په باب څه نه اورم مسجد کي
د ملا او د خطیب سره په جنګ یم
د فقیر او د امیر دوستي چي نه نسته
د دارا او د غریب سره په جنګ یم
له برخلیکه که څوک شاه او څوک ګدا وي
د ازل د دې تصویب سره په جنګ یم
هم د پلار،نیکه رواج راته پردی سو
هم د نورو د تهذیب سره په جنګ یم
چي ناپوه مو هوښیارانو ته لارښود دی
د جاهل او د ادیب سره په جنګ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناروغ او روغتیاپوه توپیر چي نه وي
د بیمار او د طبیب سره په جنګ یم
نه پوهېږم چي څه رد او څه قبول کړم
د تائید او د تکذیب سره په جنګ یم
نتیجه د وړاندي تګ مي پر شاتګ سوه
د ماضي او عنقریب سره په جنګ یم
بې نظمي او ګډوډي چي مو قانون وي
د زمان د دي ترتیب سره په جنګ یم
پېغام وړونکی چي مي سیال سو په یاری کي
د رویبار او د رقیب سره په جنګ یم
چي تر ما ځان وفادار ګڼي په عشق کي
د مین زړه د حبیب سره په جنګ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه پټېږي

په شپه کې د سپوږمۍ د مخ ځلا کله پټېږي
په توره تیاره رنګ د سپین سبا کله پټېږي
مجنون ته په هرڅه کې د لیلا ښایست انځور وي
په تور نقاب کې حسن د لیلا کله پټېږي
د حق پر لاره تلونکي د تهمت نه څه بیرېږي
په توره خټه ژړ رنګ د طلا کله پټېږي
هرڅو په مهارت رښتیا ته ورته دروغ وایې
په څو خوږو دروغو کې رښتیا کله پټېږي
هندو که مسلمان دی خو په خټه یو ادم دی
په تور او سپین کې نسل د حوا کله پټېږي
تر څو به جهالت خپل پټوې په ځان ستاینې
د ځان په تعریف عیب د خود نما کله پټېږي
پر خوله یې عبادت پر زړه پراته وي شوم نیتونه
په سپینو کالو تور مخ د ملا کله پټېږي
پر فکر او بیان یې راتاوکړی پنځه زنځیر دی
په پرې ژبه د زړه د درد وینا کله پټېږي
هر څو که هسک او پلن کړې د څرخې پله دیوالونه
زندان کې د بندې د زړه ندا کله پټېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر سر په میخ ټومبلو به د حق پاڅون مات نه سي
په زور د یزید نږغ د کربلا کله پټیږي
که ناست یم پټه خوله، ګوته په غاښ ستا جهالت ته
په پټه خوله د زړه پر سر غوغا کله پټیږي
د سر په پرېکولو به مي سترګي سي جلاده
په مرګ کي بیا ژوندون د مسیحا کله پټیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناکامي مه ګڼه لوی غم

بې وفايي د عشق په لاره کې ستم مه ګڼه
په مین توب کې ناکامي زړه ته لوی غم مه ګڼه
په پردۍ مرستې کې غرض وي پام چې زړه ښه نه کړي
که نوش دارو هم وي نو زړه ته یې مرهم مه ګڼه
هغه چې زار، زار پر منبر د خدای په یاد ژړا کړي
قلابي اوښکې یې رښتیا د سترګو نم مه ګڼه
چې یې د زړه ښکلا د مخ تر ښایست ډیره نه وي
که وي پري د افسانو هغه صنم مه ګڼه
که د نړۍ د وېش ټول واک یوځل په لاس کې درسي
تر ګاونډي خپل ځان هیڅکله مقدم مه ګڼه
سردار هغه وي چې پر زړه د خپل ولس حاکم وي
جاهل، ناپوه جنګ سالار هیڅکله رستم مه ګڼه
قسم خوړلی مشر هیڅ کله رښتیا نه وايي
لاس اېښودل یې په قران باندې قسم مه ګڼه
که مو زخمي ولس لا توان د بیا پاڅون نه لري
له مجبوریته چې چوپتیا وي هغه زغم مه ګڼه
چې په اختر د مسلمان بچی په دار ځړوي
دا د شېطان زوی دی اولاد یې د ادم مه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د خپل زړه احساس په شعر بیانولی نه شي
دا د فاروق د زړ ه احساس کله مبهم مه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه او ته

تا د سکون او خاموشۍ سپېره فضا غوره کړه
ما د دې ژوند د توفانو مسته دنیا غوره کړه
په خوله ښه وایې خو پر زړه دې شوم نیتونه پراته
ما د ظاهر او د باطن دنیا صفا غوره کړه
ته د منبر نه کړې تل وعظ د خرافاتو په باب
ما د رښتیني اسلامیت په باب وینا غوره کړه
و ماته ولې نصیحت د خېر او شر کوې ته
ما په خپل خېر و شر کې محض د خداې رضا غوره کړه
تا که د بم په شان پېغام د توري شپې راوړی
ما د لمرخرک وړانګه ځلانده د سبا غوره کړه
تا که آزار د زخمي زړونو خپل ویاړ ګڼلی
ما د دي سوو زخمي زړونو تمنا غوره کړه
ستا که دوستي د هر ظالم او ستمګر سره ده
ما اشنایي د هر مظلوم او بېنوا غوره کړه
ته که دکبر د اسمان څخه مسکین ته ګوري
ما د ژوند موخه لاس‌نیونه د ګدا غوره کړه
ته که شېطان یې جهالت او تاریکي خپروې
زه یم ډېوه خپل شاوخوا ته مي رڼا غوره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته غابښ چیچی کړي د دوږخ د عذابو له ډاره
مـا په دي ژوند کي د فردوس جنت خندا غوره کړه
ته که شراب نه‌خوري د وینو چښل خوند درکوي
ما د جهاد لاره پر ضد د دي بلا غوره کړه
هره شېبه که ته ښېرا د یتیمانو اوري
ما د ببوزله هر یتیم د زړه دوعا غوره کړه
تا و مکې معظمې ته درناوي ونه کړه
ما خپله لاره د مسجد ستا نه جدا غوره کړه
یو ځل د غرب بل ځل د شرق و خواته سر ښوروي
ما د دا خپل ثابت نظر سره وفا غوره کړه
ته د وحشت په زور د ژبي د چپ‌تیا هڅه کړي
زه شوم شاعر نوې شېوه مي د غوغا غور کړه
مه اوسه هیڅکله زما د مایوسۍ په هیله
ما د شکست نه پس دا لاره یو ځل بیا غوره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه قصه

نن غواړم درته واوروم د زړه یو حکایت
بیان درته قصه کړمه د زړه د محبت
چي نه مي وې لیدلي دغه ستا خماري سترګي
و ما ته وه پردي د زړه صفا او صمیمیت
د زړه پر مین توب باندي زه تل وم بې باوره
تر څو چي مي نصیب شو د مین زړه اسارت
یو ځوان وم بي خبره د رقیب له نېرنګونو
ستا عشق و ما ته وښودل اصول د رقابت
زه غرق وم د غرور او تکبر یوې نړۍ کي
دا ستا مینه یو درس شو د تقوا او فضلیت
چي لمس مي په لومړي ځل دغه ستا لطیف بدن کړ
ما درک کړ هغه وخت د ګل د پاڼي لطافت
چي پورته مي لومړی ځل د وصال د لذت جام کړ
بیهوښه کړم دا ستا د ګل بدن مقاربت
پر زړه مي محبت او عبادت دواړه یو شان سوه
ستا عشق راته ښکاره کړله اسرار د عبادت
پټ ستا په شرابي سترګو کي راز د نوي ژوند و
د میني ډک نظر دي و سوغات د سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مځکه که اسمان دی ماته ډک د میني ښکاري
زما نوی نړۍلید دی ستا د میني برکت
مین زړه نه مړېږي ستا د حسن ننداره کړي
چي خداي درته درکړی د سپوږمۍ په شان صورت
و زړه ته به نږدې نه شي که وي د جنت حوره
چي ماته شي را یاد ستا د خوږو شونډو لذت
ژوندی به راولاړ شم د لحد د سپین کفن نه
که ووینمه ستا د ښکلو سترګو اشارت
نصیب سره جدا کړو، جدایي مو ازلي وه
زه بیا هم یم ممنون ستا د وفا او شفقت
شکوه مه بوله هیڅکله د زړه دا څو خبري
که څه هم تل سوځېږمه په اور د فراقت
ارمان مي نه دي خپل د ژوندانه دا تېر کلونه
ما څکلي سرې پیالې دي د رښتیني رفاقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عشق

چي ستوری وي نو ځاي مې پر اسمان منلی دی
چي ګل وي نو منزل مې ګلستان منلی دی
****
چي راکړي په ناز، ناز په نيم کتو د عشق بلنه
پر سترګو مي هر ناز د خپل جانان منلی دی
*****
چي سري شونډي راپوري او د زړه په شوق مي ښکل کړي
پر زړه مي بل د سره اور يو توفان منلی دی
****
د حسن شاپېری، چي د تعظيم سر ورته ټيټ کړي
ما خپل ښکلی نګار د زړه سلطان منلی دی
****
په هر ځل بيا ديدن چي د وصال تنده ډېرېږي
وچ حلق ته مي سراب د لوي بيابان منلی دی
****
چي رب راته رښتيا کړه د وصال خواږه خوبونه
پر زړه مي عبادت د پاک سبحان منلی دی
****
چي خداي ورته بخښلي هم ښکلا او هم وفا ده
تر داسي ښکلي يار مي سر قربان منلی دی
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره چي مي د ژوند و تورو شپو ته سوه روښانه
پر ځان مي د خواږه جانان احسان منلی دی
****
په لوبو د وصال کي چي هرڅه راڅخه هېر شي
مین زړه مي د میني هر فرمان منلی دی
****
په ویښه او په خوب کي چي یې خیال راسره مل وي
تنها خوښ یم ما ترک د ټول جهان منلی دی
****
هر څو که نور جهان ته زما مینه لېونتوب وي
جنون د محبت مي د ځان شان منلی دی
****
له عشقه ناخبره که مي هر څو ملامت کړي
په عشق کي ما هر جبر د زمان منلی دی
****
که څوک راته د عشق د سود او زیان په باب څه وایي
د عشق په دې سودا کي ما تاوان منلی دی
****
نصیب چي له ازله زما په برخه محبت کړ
رښتینی عشق ما جز د خپل ایمان منلی دی
****
اشرف المخلوقات چي خداي انسان دی غوره کړی
د زړه د میني وړ مي هر انسان منلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

****

د عشق د سوز بیان ته چي یې تل ګوته په غاښ یم
لاربنود د دي هنر مي ستر رحمان منلی دی

****

زاهد ، شیخ او ملا که مي په ژبه نه پوهیږي
مومن زړه مي په مینه پاک قران منلی دی

****

د میني په دریاب کي چي ساحل وینم له ورایه
توفان مي پر کښتۍ خپل راروان منلی دی

*****

ازاد چي یم د قوم ، رنګ او مذهب له زنځیرونو
د میني یو لوي کور مي کهکشان منلی دی

****

چیني ته رسي هغه چي پر ضد د جریان لامبي
ما هم ستونزمن سفر د خپل کاروان منلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوب

دا د سپین بدن لذت دی چي پر زړه مي هنګامه ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

غېږ په غېږ غاړه په غاړه
زموږ قصي دي تر سهاره
په قصو يې نه مړېږيم چي د عشق قصه خوږه ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

دا زموږ د جنت شپې دي
تر سبا پوري ميلي دي
هر ارمان د زړه پوره دی چي په غېږ کي مي پرته ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

ښکلی مخ يې بل څراغ دی
د جنت د ګلو باغ دی
نن مي زړه د عشق بستر دی چي لېلا پکښې بيده ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه مین زړونه رپېږي
یو و بل ته هوسېږي
آوازه د نېکمرغۍ مو پر اسمان باندي خپره ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

د مستۍ اوړدې شپې دي
دا شپې څومره خوږې دي
سره غوټۍ د سرو ګلانو د شبنم په نم لنده ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

ناز د سترګو یې جارېږم
په کتو یې نه مړېږم
په کتو، کتو کي غرق سوم د توفان یوه څپه ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

د سپوږمۍ د مخ رڼا ده
ښېله سازه مو نڅا ده
د آسمان د کنارو نه کښته سوي فرشته ده
د سرو شونډو حرارت دی چي پر زړه مي سره لمبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسانه د اسمانو ده
آوازه د زمانو ده
د شرابو له جنت نه د نشې ډکه پیاله ده
د سرو شونډو حرارت دی چې پر زړه مې سره لمبه ده

پټه خوله وایي بیا راسه
د وصال د کټ د پاسه
دغه لنډ شعر بس نه دی د فاروق قصه اوږده ده
د سرو شونډو حرارت دی چې پر زړه مې سره لمبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنهايي

محفل کي د دوستانو يم خو بيا هم زه تنها يم
پر ځنګ مي ښکلي ناسته زه د بل په تمنا يم
په سترګو اشاري کړي او په خوله څه راته وايي
زه ډوب خپلو فکرو کي د بل مخ په تماشا يم
شراب په پېمانو خورم ولي بيا هم زه خمار يم
نشه ده رانه ورکه په کوم درد چې مبتلا يم
و کوم خواته روان يم ، چېرته ځمه نه پوهېږم
زه ګرځم په چمن کي که روان زه پر بېديا يم
کلونه د ځوانۍ درومي په وړاندي ببله ځنډه
زه اوس هم د تېر ژوند د خاطرو سره لګيا يم
فقير يم که امير يم ماته هر څه اوس يو شان دي
د شان او د شهرت سره زه بيا هم تل ګدا يم
نن رسم د زمان که بدلول دي د يارانو
زه خپل د ثابت يار څخه غوښتونکی د وفا يم
په باغ کي د ښايست که غوړيدلي ډېر ګلان دي
زه يو ګل بويومه ، يوي ميني ته پيدا يم
نه ډار د سره دوږخ او نه بيا هيله د جنت شته
زه خپل دوږخي ژوند کي د جنت سره اشنا يم
دوستان چي مي خلوت ژوند ته د شور راوستل غواړي
و داسي ښو دوستانو ته خو تل زه په دوعا يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بغاوت

په څنګ کي مي خالي پرته د ميو پېمانه ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده
****
غوښتل مي چي خالي کړم بې حسابه ډک جامونه
نېشې کي به ځان غرق کړم او د ځان سره غمونه
افسوس چي زما نه ورکه د ژوندون هره نېشه ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده
*****
اي ژونده، اي تقديره نور نو څه راڅخه غواړي
ټوټې،ټوټې زخمي روح مي بيا کوم دوږخ ته بيايي
په فکر کي دي جوړه نن بيا کومه بهانه ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده
****
برخليک سوغات راکړی نن د زهرو ډک يو جام دی
دا جبر د زمان دی چي زما په ضد مدام دی
افسوس چي بې تاثيره نن د زهرو دا پياله ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک وايي چي له ښو او بدو جوړه دا دنيا ده
په شپي پسې سهار او په تيارې پسې رڼا ده
يوازې زما ژوند د بدمرغيو سلسله ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده
****
دا عزم دی چي وبه کړم اعلان د جنګ اسمان ته
اسمان ته ،و خپل ځان ته او پاته ټول جهان ته
پر زړه مي پاريدلې د بلوا ستره څپه ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده
****
دا ستا د غرور قصر به د زړه په آه خراب کړم
و ظلم ته ستا تنده به په اوښکو خپل سېراب کړم
تر څو چي مي پر زړه ستا د جفا لمبه تازه ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده
****
فاروق ملامت نه کړئ که هر څو ډېر شکايت کړي
د خپل دوربخي ژوند په هکله هر ځل حکايت کړي
د ژوند هره شېبه يې د غمونو افسانه ده
دا هم زما تور بخت دی چي تړلې مېخانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاڅون

خپل روژه به په وصال د ګلبدن ماتوم
وروستی ځل به توبه پر زکندن ماتوم
ما جانان د چمن سپل ته بللی دی نن
ښکلي یار ته به غنچه د نسترن ماتوم
د اغزو پر ځاي د مینې سره ګلان لویوم
دېوالونه به پر خوا د شنه چمن ماتوم
که د یار د حسن باغ ته ور دننه شوم بیا
پر بلبل به بندیزونه د ګلشن ماتوم
د جنت د میو جام که مي و څنګ ته وي پروت
زه به تنده د خپل یار په بیا دیدن ماتوم
مسافر په بل هیواد کې ستا په هیله یم تل
پر خپل پښو به پنډ زنځیر د بل وطن ماتوم
راژوندی به کړم د مینې او وفا زوړ رواج
په زاړه رواج به نوی تمدن ماتوم
زه فاروق به د سکون پر ضد پاڅون هڅوم
په غوغا به خاموشي د سپین کفن ماتوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هوس باران

خپل بې خوبه اوږدو شپو لره حساب جوړوم
ستا د ښکلي مخ ستاینې ته کتاب جوړوم
یو باران د هوسونو مې پر زړه اوري بیا
نم،نم څاڅکي یې پر زړه باندې دریاب جوړوم
مین زړه ته مې سالم فکر لاربښود نه دې نور
د دې زړه نه پر سره اور باندې کباب جوړوم
پسله ډېره وخته لمانځو بیا کلیزه د عشق
دې محفل ته ښې نغمې زه د رباب جوړوم
ستا د ناز پوره کول مې د زړه هیله وه تل
ستا د زهرو د پیالې څخه شراب جوړوم
ستا د پاره به زه راوړم یو میلیون سره ګلان
پر سینې به دې امیل د سره ګلاب جوړوم
کټ د مینې به سنګار کړم په ګلونو هر ځل
ستا پر مخ به توري زلفې ډېر په تاب جوړوم
خوشبویي د تورو زلفو دې هر ګل خپروي
د ګل پاڼو کې انځور ستا د شباب جوړوم
خوږې شونډې به دې وار،وار ښکلومه دا ځل
ستا پر شونډو به سور رنګ د میو ناب جوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل ژوند د تېروتنو درد مې اوس کړ احساس
پسله مرګه نوشدارو چې د سهراب جوړوم
د فاروق پر زړه تازه شوې ستا خوږې خاطرې
نوی شعر د زړې مینې په باب جوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وصال شپه

چي ګل يې د ګلاب نو د اغزو نه دي جاربږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جاربږم

راځه چي يوه شپه بيا تر سپوږمۍ لاندي سبا کړو
د ميني لار روښانه بيا د ستورو په رڼا کړو
ساقي چي يې شراب او پيمانو نه دي جاربږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جاربږم

په زړه کي د ځنګله تازه وعده بيا د وفا کړو
په نيمه شپه اغاز دا خپل محفل بيا په نڅا کړو
غاټول چي يې د زړه د سرو داغو نه دي جاربږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جاربږم

په دې هيله چي پورته به جامونه د وصال کړم
باران د ښکلولو به نثار ستا تر جمال کړم
وصال ته چي راځي د اوږدو شپو نه دي جاربږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جاربږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لوبو کي د ميني چي خپل ځان راڅخه هېر شي
مکان او زمان ورک شي،ټول جهان راڅخه هېر شي
چي سور اور يې د ميني نو لمبو نه دي جارېږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جارېږم

د ناز او د حيا نه دي مخ سور لکه انار شي
د ميني وربمه راشي او پر زړه باندي بهار شي
د زړه د هېجان او رپېدو نه دي جارېږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جارېږم

په خيال کي راسره يې که زه ويښ او که بيده يم
ستا زلفي بويومه چي پروت ستا پر څنګانه يم
د ميني د بستر د هوسو نه دي جارېږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جارېږم

تحفه چي درته رب دا ټول ښايست د دې جهان کړ
دا ستا د ميني اور يې زما پر زړه هم جاويدان کړ
فاروق وايي د ميني د قصو نه دي جارېږم
د سرو شرابو جام يې د نشو نه دي جارېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقدير

چي جانان رانه خفه دی خپل تقصير لټوم
پخلايني ته د يار نوی تدبير لټوم
خماري سترګي د يار په خوب او خيال کي لرم
پر خپل زړه يې تل د نازکتو تاثير لټوم
هيله من د معجزې د پېښېدو يمه تل
په هر ښکلي مخ کي اوس د يار تصوير لټوم
ما ليدلی دی د وېري ډک يو خوب برايي
په خپل زړه کي د دي نوي خوب تعبير لټوم
که د زړه هيلي پوره نه شوي په ژوند کي زما
په هرڅه کي اوس ګناه د خپل تقدير لټوم
جدايي او تنهايي کړه خداي زما په نصيب
بيهوده ناکامه ژوند ته بل بهير لټوم
ما پيدا نه کړه صحيح لاره د ژوند د سفر
تل د ژوند د قافلي نوی مسير لټوم
سر مي ټيټ نه شو هرګز په درنو ستونزو د ژوند
مغرور باز يم لوړي څوکي د پامير لټوم
زه فاروق غواړم و دوست ته د زړه حال ووايم
په دوستانو کي د ځان په شان زهير لټوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما یار

بې وفا که وفادار دی یار زما دی
بې ګناه که ګناه‌دار دی یار زما دی
ښایسته دی که بدرنګه زما خوښ دی
چې د زړونو طلبګار دی یار زما دی
که د سر وېښتیان یې سپین دي لکه واوره
چې پر زړه یې نوبهار دی یار زما دی
که نوکر د هر غریب او بېنوا دی
چې په نورو کې سردار دی یار زما دی
په ظاهره که ښکاره لکه ملنګ دی
شاهانه چې یې دربار دی یار زما دی
د غریب سره که هر څو خوار وزار دی
چې نامیانو کې نامدار دی یار زما دی
و بدبین ته که په بده سترګه ګوري
چې په یارېې اعتبار دی یار زما دی
که ملګري یې د ګوتو په شمار دي
چې د دوست د زړه قرار دی یار زما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تل ناست دی په محفل کې د ساقیانو
چې یې زړه پر سره انګار دی یار زما دی
که مسجد ته یې د تلو څه عزم نشته
چې د خدای تر لارې جار دی یار زما دی
که وهي تل د فلک سره ډغرې
د الله چې منت‌بار دی یار زما دی
که شاهین غوندې مغرور پر اسمان ګرځي
چې د خلکو خدمتګار دی یار زما دی
چې د وخت و تور ښامار ته تسلیم نه شو
په اختر که سر په دار دی یار زما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ته چې را سره یې

ته چي را سره یې د دنیا خبري څه کوم
ژوند یوه شېبه ده د سبا خبري څه کوم
یو نظر د سترګو چي زما په لوري وارړوې
غرق یې په کتو شم د دریا خبري څه کوم
ما په عبادت د حقیقت لاره و نه موندل
ځمه مېخانې ته د ملا خبري څه کوم
مینه مو رښتیا ده جدایي او بېلتون نه مني
زه چي مجنون نه یم د لېلا خبري څه کوم
ما ته د قسمت وېشونکي مینه را په برخه کړه
دومره چي بډاي یم د ګدا خبري څه کوم
دا د اخلاص مزي دي چي مینه پرې ساتلې ده
یار چي وفادار وی د جفا خبري څه کوم
زه د خپل ژوندون مفهوم د لمر په شان ښکاره وینم
زه چي یم بینا د نابینا خبري څه کوم
هر څه چي تیر شوي په ګیلو، په ارمان نه ارزي
ځم چي انتها ته د مبدا خبري څه کوم
هر څوک په هنداره کي دا خپل ظاهر صورت ویني
هر څه چي دروغ وي د رښتیا خبري څه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل مي پر زړه اور دی په ظاهره که خاموش ښکارم
پټه خوله ګويا يم د غوغا خبري څه کوم
زه د ماهرويانو د توصيف نه لاس په سر شومه
ښکلی چي مي يار دی د ښکلا خبري څه کوم
زه په تروږمۍ کي پټ رازونه د عالم وينم
خوښ يم په تياره کي د رڼا خبري څه کوم
ما په خپل خلوت کي د دنيا نه ځان بېغمه کړ
يار چي په خندا شي د ژړا خبري څه کوم
زما يوه بلنه ده د ميني او دوستۍ په باب
ټوله چي کاڼه شي د شنوا خبري څه کوم
زه په پښتو شعر د زړه حال بيانول غواړم
يار مي شعر ستايي د بل چا خبري څه کوم
زه فاروق يوازي د خپل يار مينه پر زړه لرم
دا د ژوند معنا ده بي معنا خبري څه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلورديرش ګلان

ځه چي ځو اشنا د ګران وطن افغانستان په لور
وا به‌خلو قدم د زړه د ميني د ارمان په لور
بيا به د تاريخ د کتاب پاڼي شاته واړه وو
ځو به شااشرف ته د ايران او د توران په لور
ماته به تياره کړو د لمر ځرک د پلوشو په زور
دا به وي بلنه د وروری د هر افغان په لور
وبه تړو ملا د خفه زړونو پخلايني ته
دا پيغام به وليږو د لېږي کهکشان په لور
مونږ به نوي جوړه کړو د ميني او صفا نړۍ
ستر توفان د ميني به روان کړو د انسان په لور
وايو به د شپې خوارږه نکلونه تر سبا پوري
وبه ګرځو بيا د درخانۍ او ادم‌خان په لور
ځوک که‌لا د ميني او وفا په قدر پوه نه وي
وا بي‌ږوو پام د شيرينو او مومن‌خان په لور
بيا به ګران وطن سيال د نړۍ د ملتونو کړو
ځو به ګرځندي د پرمختګ د ستر کاروان په لور
دا د ګلو بڼ،پکښي ځلورديرش رنګارنګ ګلان
هر چيري چي يو ځو د وطن‌جنت‌نښان په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېيتې به کړو سرونه د ملالي سرښندني ته
ځو به کندهار ته د میوند او ایوب‌خان په لور
یاد به د نامتو شاعر سید عبدالخالق کوو
ځو به په ویاړ د احمدشاه او میرویس‌خان په لور
یو لاس کي به یوم او په بل لاس کي به کتاب واخلو
ځو به د هلمند نه د نیمروز او د سیستان په لور
ولاړ به سو فراه ته بیا به تخت د رستم وګورو
ځو د ملا عثمان او پیردونبال‌بابا د شان په لور
پرې به زنځیرونه د پردیو رواجونو کړو
ولاړ به سو جوین ته د زال او نریمان په لور
و به ګورو یو ځل د ښارونو ناوکي هرات
ځو د میرداود نه د نامتو کوه‌غلتان په لور
یو نظر به واچوو تاریخ ته د غوریانو موږ
ځو به د بادغیس د تل نامتو چهل‌دختران په لور
شپه به میلمانه سو د زابل پر غېرتي خلکو
اوږد به کړو سفر د دراوت او د روزګان په لور
یو ځل به غزني ته د سلطان‌محمود دربار ته ځو
ځو د فردوسي نه د نامتو ابوریحان په لور
غوږ به د سلام او د استاد دري موزیک ته سو
ولاړ به سو لوګر ته د بیلتون او بهایي‌جان په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

شنو هسکو درو د الیشنګ او الینګار ته ځو
ځو په مینه، مینه د لغمان او نورستان په لور
سترو مفکرو د ثریا ته به بل ژوند ورکړو
ځو به ننګرهار ته د شرق ستوري شاه امان په لور
موږ به یو د بل د پاره ، نه چي یو د بل پر ضد
و به کړو زیارت ځو به د ستر فخر افغان په لور
ولاړ به درناوي ته د خدایي خدمتګارانو سو
دوي ته به خپل لاس په دوعا جګ کړو د اسمان په لور
وابه ورو نغمې او ترانې د ګران وطن په باب
ځو به په ورو ،ورو د اول میر او ملنګ جان په لور
وا به ورو کنړ کي د سید جمال الدین پېغام
ولاړ به سو وردګ ته د غازي محمد جان خان په لور
ځو به پکتیا ته اتڼونه به د سولي کړو
اورو غرنۍ سندري، ځو د ګل زمان په لور
یاد به په سندرو کي د خوست د غرو سرونه کړو
ځو د کاپیسا نه د تخار او د بغلان په لور
بیا به دښمن تښتي د وانې او میرام شاه څخه
ځو به پکتیکا ته د شرني د دامان په لور
ولاړ به سو مزارته او زیارت به د روضي کوو
عزم د سفر به وي د بلخ او بدخشان په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو د خوشحالۍ ورځي به تيري په پروان کي کړو
ځو د ګل غونډۍ د غوړيدلي ارغوان په لور
تنده د سفر به د سالنګ په اوبو ماته کړو
ځو د داي کونډي نه د پنجشير او کوهستان په لور
ښار د غلغلې به راژوندی کړو په خيالونو کي
ځو بند امير ته د بودا او د باميان په لور
بيا د قره قل او د قالينو ښکلي ملک ته ځو
ځو به بزکشۍ ته د فارياب او د جوزجان په لور
ولاړ به سو کندز ته حماسي به د غېرت واورو
ځو به سرپل ته بيا د ښکلي سمنګان په لور
جوړ به کړو اشنا کابل د ميني او ښکلا يو ښار
ځو به په ډير شوق د عاشقان او عارفان په لور
واوره د فاروق خبره، بس ده پرديسي اشنا
ځو د ښارنو نه د قرغي او پغمان په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه شپه

چې زړه دې رانه وړی نو یارې راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخورې راسره وکړه
*****
تر سپینې سپوږمۍ لاندې به پراته یو خوا په خوا کې
هر څه به زموږ هېر وي یو د بل په تماشا کې
د ناز په مړو کتو مهرباني راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخورې راسره وکړه
*****
د یو بل پر ستاینې به بنیاد خپله قصه کړو
خوږې نغمې د مینې او وفا به زمزمه کړو
د زړه د صمیمیت څخه دوستي راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخورې راسره وکړه
*****
هر لور ته په ځنګله کې به د نیمې شپې چوپتیا وي
دوه زړونه به بې صبره د وصال په تمنا وي
تل پاته جاویدانه عاشقي راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخورې راسره وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو بل ننداره به کړو د ستورو په رڼا کې
یو بل ته به خوله ورکړو په نڅا او په ګډا کې
په ناز، نازښکلولو کې سیالي راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخوري راسره وکړه
*****
د عشق دغه محفل به مو جاري تر سپین سبا وي
یوه شپه به د مینې د خوښۍ او د خندا وي
یو ځل رسم او رواج د شرابي راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخوري راسره وکړه
*****
سهار به سره ګلونه ستا وېښو ته زه کتار کړم
ستا زلفې، ستا سینه به په ګلونو زه سینګار کړم
پتنګ چې ستا د مخ یم خواخوږي راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخوري راسر وکړه
*****
زما او ستا په مینه کې به ځای د جفا نه وي
صادقه مینان به تر مرګه نور پر دنیا نه وي
قولونه، قسمونه باوري راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره مېخوري راسره وکړه
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاروق خو به تل وکړي ستا د حسن تعریفونه
صفت ته به دي جوړ کړي تل خواږه،خواږه شعرونه
راځه په پښتو ژبه شاعري راسره وکړه
یوه شپه تر سهاره میخوري راسره وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نوي کال دوعا

غواړو خوښي او خوشحالي د هر افغان پر جبین
وایو الهي امین
نوي ګلونه ،نوی کال ،نوی بهارغواړو
نوی ګلزار غواړو
نېکمرغه کال دي شي د ټولو زخمي زړونو تسکین
وایو الهي امین
*****
د نوي کال سره هیوادته سرلوړي غواړو
ورکه نېستي غواړو
خدایه قوت راکړي چي ولاړ سو پر دي لاره متین
وایو الهي امین
*****
افغان ولس لره پاک ربه سعادت غواړو
ملي وحدت غواړو
خدایه نصیب مو کړي پر ژوند نوی باور او یقین
وایو الهي امین
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغان ستوری بیا ځلانده پر اسمان غواړو
کور يې ودان غواړو
خدايه را وويني پر جګو غرو پرواز د شاهين
وايو الهي امين
*****
له پاکه ربه وطنوالو ته عزت غواړو
شان او شوکت غواړو
د وطنوالو وېشل نه غواړو پر تور او پر سپين
وايو الهي امين
*****
خدايه د پلار د شفقت لويه دنيا غواړو
د مور دوعا غواړو
د ګراني خور سترګي دي نه ويني خپل وروڼه غمګين
وايو الهي امين
*****
ستا له درباره هر ماشوم لره خندا غواړو
رنګين سبا غواړو
اوښکي دي نه راځي پر مخ د دې معصوم نازنين
وايو الهي امين
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن د مين زړونو پوره ټول ارمانونه غواړو
ورک يې غمونه غواړو
ژوندون يې غواړو د نوروز په سرو ګلونو رنګين
وايو الهي امين

*****

نيت د خدمت مو وکړ خدايه لوړ همت غواړو
ننګ او غيرت غواړو
د نن په شان مه کړي هيڅکله د فاروق زړه حزين
وايو الهي امين

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهني رابلل

د مړو ژبو نه به بېرته راژوندي شي
که پښتون په پښتو ژبه لوست ليکل کړي
ناپوهۍ که پښتانه سحر و جادو کړه
پښتو ژبه د دي سحر ماتول کړي
د خوشحال روح به هيڅ وخت خوشحاله نه شي
که ناپوه د ده په توره نازيدل کړي
چي ناپوه په خپل ملت او ولس وياړي
په خپل جهل د هغوي شرمېدل کړي
خوار افغان ولس به هله سره يو شي
چي وګړي يې پوهني سره مل کړي
نېکمرغي به د پښتون پر کور مېلمه شي
خپل هيواد ته که د پوهي راوستل کړي
کامراني د خپل ولس چي يې ارمان وي
زاړه ژوند ته نوښتونه رابلل کړي
چي يې مينه د افغان وي په سينه کي
په پښتو به د پوهني خپرول کړي
فاروق شعر ليکي هر څو که شاعر نه دی
په دي ډول درد د زړه اظهارول کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمه شپه

نیمه شپه ده نم، نم د باران دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی
خاموشي ده، خلوت، تنهایي ده
پردی ملک، پردیسي، بېکسي ده
ځکه بل پر زړه اور د هجران دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی
پر نړۍ مي خپره تاریکي ده
را نه ورکه د ژوند نېکمرغي ده
زما نه هېر هم مکان هم زمان دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی
نه اشنا، نه مي دوست، نه مي یار سته
نه موسکا، نه خندا د دلدار سته
بېله یاره جنت تنګ زندان دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی
نسته خوا ته مي ښکلي ځوانان نور
د دوستۍ پر ډېوې پتنګان نور
پاته ژوند مي د غم یو داستان دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به څه له اسمانه ګیله کړم
هېر به زه د ژوند کومه قصه کړم
په کنګل اوښکو بار مي ګرېوان دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی
هم مي پېل د ژوند په ژړا سو
هم مي تګ په ژړا له دنیا سو
ډېر په څنډه مي اجل را روان دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی
دا جهان چي پر ظلم ودان دی
څه باور چي عادل بل جهان دی
زما د میني د هیلو کور وران دی
راپه یاد مي بیا ښکلی جانان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شني سترګي

ستا ښکلي شنې سترګي نن خیال د زړو د ښکار لري
تور باڼوګان یې زما پر زړه د خنجر وار لري
په مستو سترګو کي دي مست توفان د میني ښکاري
هره خپه یې د زخمي زړونو قرار لري
ستا خماري سترګو ته مخامخ کتلای نه شم
هر یو نظر یې سوځیده د سره انګار لري
د میني ډک نظر دي لطف او نوازش اوروي
یو تود نسیم مړاوو غنچو ته د سهار لري
چي ستا د سترګو د لیندۍ غشي په زړه کي لري
په وینو لژند تل د زړه پر سر پرهار لري
چي ستا د سترګو د نښې نه نښه سوی یو ځل
د خم و څنګ ته ناست خپل ټوله ژوند خمار لري
که هر معصوم زړه کړې بیمار په یو نظر د سترګو
پټ پټ کتل دي بیا علاج د هر بیمار لري
چي شهلا سترګو یې جادو کړم نو تعجب نه کوم
چي بې شماره عاشقان هغه نګار لري
ستا ښکلو شنو سترګو چي رنګ د شنه اسمان اخستی
ژور رازونه یې و زړونو ته بهار لري
پري که ښکلي ده خو سترګي د جانان نه لري
نه یې منم که هر څو ګل غوندي رخسار لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستۍ هیله

مرور یاره نن پخلا راسه
د مرګ بستر ته په دوعا راسه
که مي ناروغه تن علاج نه لري
ناجوړي روح ته مي شفا راسه
نن مي اجل پر دروازه ولاړ دی
ته مي علاج ته مسیحا راسه
بېګانګي دي په کلو اوږده سوه
نن پردې مه اوسه اشنا راسه
زه شکایت ستا د جفا نه کوم
ته هم ګیلې پرېږده رضا راسه
تا چي زموږ د میني راز پټ وی
اوس چي مو مینه ده رسوا راسه
زه خو وایم تر اخري سلګیو
د پاکي میني تمنا راسه
ستا پر سرو شونډو موسکا ښه ایسېده
خبر دی نن هم په خندا راسه
په درناوي د هغو ښو خاطرو
دومره چي راغلې یوځل بیا راسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وروستی دیدن په ژوند ونه سو
په بل ژوندون کي زما پر خوا راسه
چي دي هجران د اور لمبه شوه ماته
اوس مي د مرګ په تماشا راسه
سترګي مي وتړه په خپلو لاسو
د قبر خوا ته په ژړا راسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوار ماشوم

ولاړ دی په کوڅه کې معصوم طفل د افغان
غمګین مخ کې یې نقش دي ټول غمونه د جهان
یخني یې لړزوي، دده پښې لوڅې، سر بربنډ
د سترګو نه رواني تودې اوښکې پر ګریوان
و مخ ته یې پتنوس د بولانې پروت پر سړک دی
د کور د خرڅ ګټل ګڼي د خپل زړګي ارمان
ولاړه پر لنده مځکه کېږدې د خوار ماشوم ده
قصرونه جوړوي بل خوا ښېرپور کې زورګویان
د خوار ماشوم د پلار په وینو رنګ شوه ټوله مځکه
لعنت پر داسې قصر چې پر وینو وي ودان
ظالمو حاکمانو د غریب خونه کړه ورانه
پاک رب دې نو پخپله کړي د ظلم کور وېران
ګیله زموږ د خلکو ده د سترو هیوادو نه
چې بیا یې پر قدرت کړه شرمیدلې رهبران
لا اوس یې هم منګولې دي زموږ په زړو کې ښخې
له درده مو لذت اخلي زاړه قوماندانان
چې روح یې وي ناجوړی، په زړه تور او په تن زوړ شي
نو ځکه د کافر په نوم شهید کړي مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوا مو رابللي که جرګي تل د مشرانو
افسوس چي اوس سبب دي د نفاق زموږ مشران
چي کله هم افغان د پرمختګ په لور قدم ږدي
د دي لاري شي خنډ يو شمير بې دينه ملايان
ستا ځاي کنج د مسجد او ستا توبه بايد بار بار واي
يې غرق په ګناهونو بيا هم هيڅ نه يې پښېمان
که ګور ته دي هم ورلاي نو همدا ثروت دي بس و
د چور د اشتها ثاني دي نشته پر جهان
ټپوس د تاريکۍ مو توره شپه نوره تياره کړه
وژونکي د ملت مو شوه ملي قهرمانان
تيارې پسي تياره شوه دا به جبر د تقدير وي
حاکم کړ د ډېري عصر بيا پر موږ زمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پردی یار

د سپوږمۍ د مخ رڼا ده
که د یار د مخ ښکلا ده
د اسمان د کنارو نه
پلوشه د سپین سبا ده
طلبګار یې په کلو وم
انتظار یې په شپو شپو وم
مهربانه چي مي یار دی
دا زما د زړه دوعا ده
په مذهب که بېګانه ده
په پاکۍ لکه ښیښه ده
غوره کړي زما زړه ده
ناروا ده که روا ده
سزاواره د صفت ده
زما د زړه د محبت ده
دا که خپله که پردې ده
مېلمنه پر زړه زما ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلی مخ پټ په حجاب دی
که د زلفو تور نقاب دی
پر سپین مخ سایه د زلفو
نن د لیري هوېدا ده
مسافر د پردي ښار سوم
نن پردېس د کوم دیار سوم
اوس همدغه پردې مینه
زما و زړه ته تسلا ده
بېگانه وطن مي خپل سو
خپل وطن پردی د بل سو
په ظاهره که زه خاندم
په خندا کي مي ژړا ده
که دا ښار د شنو ځنگلو دی
د مېلو او هنگامو دی
د خاړپوځو د هیواد نه
جدایي لویه جزا ده

پردی یار وای خو وطن وای
زموږ وطن ښکلی چمن وای
نن د زړه د حال بیان ته
د فاروق ژبه گویا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اشنا یاد

په غمجن زړه ښکلی مخ د خپل نګار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم
****
که تقدیر د خپلي میني نه جدا کړم نن
مسافر یې پر ښارونو د دنیا کړم نن
په افسوس د فراه‌رود د سیند کنار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم
****
که هرڅو د اوکرائین ښارونه ښکلي دي
په شعرونو او سندرو کي ستایلي دي
د کابل په یاد ښکلا د پردي ښار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم
*****
که هرڅومره د خارکف نجوني نامداري دي
په ښایست کي بې مثاله حسن‌داري دي
زه به څنګه ښکلي سترګي د خپل یار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تیاتر ، سینما او که پارکونه دي
که دا ځګې ودانۍ، ښکلي کورونه دي
ټول په فکر د خپل باغ د سپین چنار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم
****
زه پر زړه باندي د یار خوږې قصې لرم
د خندا او مینې ډکې خاطرې لرم
تش په یاد یې ټول غمونه د روزګار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم
****
که مرګ زما په نصیب پرته له دیدنه سي
خپل یار غواړم تر څو روح جدا له تنه سي
په ورو ، ورو هیله په ژوند د بیا دیدار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم
*****
زه فاروق د خپل تقدیر سره په جنګ یمه
د فلک د ناځوانی څخه په پتنګ یمه
د برخلیک څخه ګیلي کرار، کرار هېروم
نه هېرېږي که هرڅو یې ډېر په زیار هېروم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زلفو یاد

د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مې ښکل کړه
ورېمه سه د پسرلي او د سبا سره مي ښکل کړه
****
خپه دي ځان نیولی دا خو هسي بهانه ده
که څه هم ملامت نه یم زما نه دي ګیله ده
یوځل سه مهربانه او خندا سره مي ښکل کړه
د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مي ښکل کړه
****
د ژوند شپي په تیارې او تنهایي کي تېرومه
خوږې قصې د مینې دي په وار،وار یادومه
سپوږمۍ د شنه اسمان سه او رڼا سره مي ښکل کړه
د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مي ښکل کړه
*****
پر زړه باندي مي تل ستا د وصال هیله پرته ده
احساس د تود بدن دي زما پر زړه د اور لمبه ده
د وصل د هوس او تمنا سره مي ښکل کړه
د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مي ښکل کړه

****

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه چي يو ځل بيا د وعدې ځای ته سو پر لاره
د سيند څپو ته کښينو لاس تر لاس،غاړه په غاړه
د سيند د ترنم او د نوا سره مي ښکل کړه
د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مي ښکل کړه
****
چي ستا د زلفو بوي راته د باغ هر ګل تحفه کړي
پر مخ باندي مي ستا د خپرو زلفو ياد تازه کړي
د زړه د محبت او د صفا سره مي ښکل کړه
د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مي ښکل کړه
****
د ميني ډک نظر دي د شرابو پېمانه ده
د ځکلو لېونۍ هيله يې زما پر زړه پرته ده
د ميني د شرابو د مينا سره مي ښکل کړه
د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مي ښکل کړه
*****
اي کاشکي د ژوندون خوږي شېبې بېرته تکرار شي
يو ځل مي په نصيب بيا ستا د ښکلي مخ ديدار شي
فاروق وايي د سترګو د ښکلا سره مي ښکل کړه
د سرو شونډو د اور او د موسکا سره مي ښکل کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه احساس

زما د احساس سره نن خم، خم شرابونه ښايي
سرکښه روح ته مي د زهرو ډک جامونه ښايي
که ستا د زلفو سره سور ګل د ګلاب ښه ايسي
زما اسارت ته د دې زلفو کمندونه ښايي
چي بيهوده مي عبادت ستا په مسجد کي کوی
زما عبادت لره اوس نوي محرابونه ښايي
ما چي منلې عمر قېد سزا په مينه کي ده
د زولنو سره مي نوي زنځيرونه ښايي
چي ستا د سترګو افسون هر ځل راته نوی ښکاري
د دې افسون سره هر ځل نوي دامونه ښايي
ستا د جفا زاړه دردونه مي نور نه زوروي
د زخمي زړه سره مي نوي پرهارونه ښايي
که ستا شونډان د مچولو ستر هوس پاروي
زما وچو شونډو ته چاودلي سره داغونه ښايي
ستا د ښکلا سره هر ځل د زړه ګټل ښه وايي
ما ته هر ځل د زړه بايلل، نوي غمونه ښايي
ته که په پټو سترګو هر څه د پردو ښه ګڼې
زما سره خپل د پښتنو ښکلي دودونه ښايي
تا که تېر هېر کړه،نوی ژوند ، نوي ياران لټوې
زما د نصيب سره د ژوند زاړه يادونه ښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل ته

اي د سهار ګله خوله دي ډکه د خندا ده
ستا خندا چې ګورم زما هېر خپله ژړا ده
ژوند دي دی یوه خوله خندیده خو بیا هم خاندې
ستا خندا مې ژوند ته نوې هېله د سبا ده
بس دی نور به نه کړم شکایت د خپل نصیب څخه
څه چې وي برخلیک پر هغه تل زما رضا ده
بیا د نوي پېړل ولولې پر زړه ژوندۍ لرم
ستا د ښکلي مخ نه زما د ژوند تیاره رڼا ده
ستا خوشبویي تل په یادوي د یار د زلفو بوي
ستا لیدو ته تږې دي مجنون دی که لېلا ده
ستا پر ښکلي مخ د محبت جهان انځور ښکاري
ستا نه جارېدل د هر بلبل د زړه وېنا ده
نه به شي هېڅ ستړی ستا د مینې په اظهار بلبل
خبر که یې مینه پر دا ټول جهان رسوا ده
ستا په لندو پاڼو کې پروت ناز د سرو شونډانو دی
ستا نوازش تل د هر مین زړه تمنا ده
ته ښکلی سوغات د لوړ قدرت یې عاشقانو ته
ستا په رنګ کې ټوله د ځوانی ټوله ښکلا ده
ته چې مین زړونو ته د مینې پېغام وړونکی یې
وایه زما یار ته د فاروق مینه رښتیا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوې زړه مينه

زړه مي ولي د کوګل څخه روان دی بيا
نن د تيري، زړې ميني په ارمان دی بيا
چي پر زړه مي اور د ميني اوس خاموش و قريب
بلبډونکی مي پر زړه اور د هجران دی بيا
وخت طبيب و پرهارونه يې د زړه رغول
نيم جوړشوی زړه مي ولي خون چکان دی بيا
سترګي وچي سوي،د اوښکو ذېرمي تشي ورو ،ورو
سېل د اوښکو مي جاري نن پر ګرېوان دي بيا
آوازه د بيا راتلو يې پر هر لور ده خپره
پخلايني ته مي زړه ډير ناتوان دی بيا
که هر ځلي په خپل هوډ کي بريالی نه‌وم زه
نن د عزم د کلک والي امتحان دی بيا
چي د سترګو د جادو مقابله نشم کړاي
ما ترک کړی ښار په لور د بيابان دی بيا
ما ويل په زړه کي نشته د دوستۍ څه احساس
نن څه وشوه چي زوړ يار مي دومره ګران دی بيا
په تياره ژوند کي مي څرک د روښنايي شو محسوس
مخ يې ستوری ځليدونکی پر اسمان دی بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ښکلا یې د کلونو څه اثر نه دی پروت
نازنین مخ یې نن ګل د ګلستان دی بیا
زړه مي بیا د عشق د اور سره نن لوبې کوي
ډاډمن زړه مي دوه زړه توب ته خپل حېران دی بیا
ما منلي ده چي زړه ته ډېره ګرانه وه تل
نو مي ولي نن زړګی دومره پرېشان دی بیا
شاهین زړه بیا لوړ پرواز لره چمتو وینم نن
خوځیدونکی چي پر خوا د کهکشان دی بیا
که فاروق ویل د عشق څخه توبه ده زما
رښتیا نه وایي عاشق د تل په شان دی بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دښکلي مخ ارمان

دا ستا د ښکلي مخ د بيا ليدو يم هيله‌من
زموږ د بې سهاره اوږدو شپو يم ارمان‌جن
دا خوب ستا پر سينه ؤ که بيده وم په جنت کې
چې ويښ شوم نو مې وليد بل جهان بل تمدن
که‌ژوند مو يو ځل نه‌واي، ورپسې‌واي بل‌ژوندون
په دين به د هندو واي که يقين واي د ديدن
دا تور کميس دې ښيي ټول ښايست د سپين بدن
و ګل ته ورکوي ژوند که وي نقش ستا پر لمن
عطرونه د جنت لري بوي ستا د تورو زلفو
د مخ څخه دي رنګ اخلي سنبل او ياسمن
د سرو ميو پيالې لري رنګ ستا د سرو شونډانو
د ګل پاڼه تمثيل کړي دغه ستا نازک بدن
روزګار بدلوي هر څه که حاضر که مستقبل وي
ستا مينه يوشان پاته ده پرون و او که نن
پتنګ که په خاموشه خوله قربان کړ ځان له ميني
د زړه د عشق فرياد کړي هر بورا د دې چمن
هر څو که‌مې هجران بيايي‌ورو ،ورو د مرګ په‌لوري
زما مينه ده ژوندۍ که مې په تن وي سپين کفن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جادو

پټې اشارې مې ستا په سترګو کې لیدلې دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلې دي
*****
وینم شاوخوا دې زړه بایللي حریفان ګرځي
سون ته چمتو زړونه پتنګان ګرځي
څومره عاشقان دې نن محفل ته رابللي دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلې دي
*****
تېر قولونه څه سوه چې نن بیا نوې وعدې کوې
چا ته قسم خورې چا ته بهانې کوې
هرې خوا وعدو دې څومره زړونه زورولي دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلې دي
*****
دا منم چې رنګ د خیالي ښکلو شاپېرو لري
هر چیرې شهرت د افسانو لري
بیا دې سره ګلان په تورو زلفو کې ټومبلي دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي د هر چا، خو په رښتیا د هیچا نه وسېږي
دوست،خو په دوستۍ کې بېګانه وسېږي
ډېر معصوم ځوانان دي په لمبو د عشق سيځلي دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلي دي
*****
پوه یم چې په زړه کې ته ما خپل نوبتي ښکار ګڼې
دام ننوتو ته مې تيار ګڼې
خداې چې کومې چارې دي دې دام ته سنجولي دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلي دي
*****
ما به جادو نه کړې که بلنه د بستر راکړې
خوله په کرشمو په ډېر هنر راکړې
زما زارۍ که تا په خپلو هیلو کې شمېرلي دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلي دي
*****
زه د خپل نګارنه تل ژوندې پاته یاري غواړم
زړه چې ورکوم د زړه دوستي غواړم
دا مې د زړه نه سترې کېدونکې هلې ځلې دي
تا چې په خوږه خولګۍ خندلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یار

یار مي د سرو ګلو غنچه ده
د محبت خوږه قصه ده
د ښکلو نجونو په ټولګۍ کي
ښېله سنګاره ښایسته ده

ښېلګه د میني او وفا ده
توده وږمه د سپین سبا ده
د ښکلو سترګو هر نظریې
ژوند ته روښانه پلوشه ده

خدایي سوغات د اسمانو ده
سپینه سپوږمۍ د نیمو شپو ده
د دي نړۍ په ستر انځور کي
د جنتونو فرشته ده

د جګو ونو په کتار کي
د سرو ګلونو په کنار کي
پټ د پردیو له نظره
هر مازدیګر زموږ وعده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

نم، نم باران وي لمرلوېده وي
د طبيعت هرڅه تازه وي
د خوږ وصال د هوس خيال يې
زما پر زړه د اور لمبه ده

شونډې چې خولې ته رانږدې کړي
ورکې مې ټولې اندېښنې کړي
د سرو ګلونو په بستر کې
د وصال شپه لنډه شېبه ده

پر زړه ژوندې بيا خوشحالي ده
ژوند ته راغلې نېکمرغي ده
د مين زړونو په محفل کې
يار د رباب مسته نغمه ده

د مين هر ديدن خوښي ده
نېشه د مينې ابدي ده
وېره چې دا به خوب او خيال وي
د فاروق زړه ته وسوسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې زړه مين نه وي

چې زړه مين نه وي لېلا څه کوي
د لېونتوب د ژوند دنيا څه کوي
چې پر زيارت د ملاعثمان ملنګ وي
د پيردونبال بابا دوعا څه کوي
چې د جفا په اور سېځلی نه وي
قول د ميني او وفا څه کوي
چې يې د زلفو په دام نه کښېوزي
هغه مجنون نه وي صحرا څه کوي
چې د شرابو جام يې څکلی نه وي
د تل نېشې لويه ګناه څه کوي
چې يې د شوندو اور لمس کړی نه وي
تازه داغونه د جفا څه کوي
چې نيمه شپه د يار ديدن ته نه ځي
نو د سپوږمۍ د مخ رڼا څه کوي
چې د نرګس پر مخ شبنم نه ويني
هغه د ګل د مخ ښکلا څه کوي
چې يې زده کړې د عشق ژبه نه وي
د مين زړونو تمنا څه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې يې په ژوند کې ګل پاللی نه وي
بيا د بلبل د زړه غوغا څه کوي
چې له ازله يې هجران نصيب وي
د خپل برخليک سره دعوا څه کوي
چې فاروق زړه په داسې درد اخته کړ
د بې درمانه درد دوا څه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مازدیگر

بیا یې د ګلونو تاج په سر دی
شپه مو د اختر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
کله چي په مینه راته ګوري
مینه د دلبر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
بیا یې آوازه پر اسمانو ده
شان یې بحر و بر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
سره پیاله د میو راته راکړي
خوند یې لب شکر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
توره تیاره بس، وار د سبا دی
نوی ژوند سهر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
سره غوټۍ د ګلو وغوړیږي
حوره د کوثر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې د پري سنګار په ځان دی
ناز کوي هنر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
ستورو او سپوږمۍ ته حاجت نه شته
یار مي نن د لمر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
مینه مي جنون زه چي مجنون یم
نن لیلا ابتر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
عشق مي پر زړګي توفان د نوح دی
موج یې سمندر سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي
شونډي یې موسکا، سترګې یې ناز کړي
ناز د نازپرور سره راځي
ښکلې مازدیګر سره راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مینې باغ

که باغ د مینې جوړ سو زه بلبل ورته راوړم
ګلونه دري، څلور زه د سنبل ورته راوړم
که وویـنم کوچۍ اشنا د لویو غرو په منځ کې
یو تور زري کمیس زه د کابل ورته راوړم
که یو ځای سره ولاړ شو د فراه لرغوني ښار ته
میلې او خوشحالۍ د باغ پل ورته راوړم
که یار مي پر یارۍ پښېمانه نشي،وفادار وي
د زړه پر سر سور اور د مینې بل ورته راوړم
که ووایي را ټیټ کړه د لرکوه د غرو سرونه
لرکوه څه چي دا زړه د خپل کوګل ورته راوړم
که زما غیږې ته راسي او نڅا مو تر سبا سي
سازونه رنګارنګ د ټول محفل ورته راوړم
که زما پر ځنګانه باندي سر کښېږدي او بیده سي
خواږه،خواږه خوبونه به زه تل ورته راوړم
که ژر،ژر مو د دوو مینو زړونو ملاقات وي
یو شعر د فاروق خو به هر ځل ورته راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګلو موسم

د ګلو په موسم کې چې دلدار راسره نه و
ګل نه و، بهار نه و چې نګار راسره نه و

د مینې آرزو مې وه برباده، اشنا نه و
د دې دنیا د ژونده وم ناښاده، اشنا نه و
د شپې په تروږمۍ کې وم سهار راسره نه و
ګل نه و، بهار نه و چې نګار راسره نه و

وفا مې پېژانده، بې وفايي راته پردۍ وه
اشنا مې پېژانده، نا اشنايي راته پردۍ وه
په ژوند د داسې ورځې انتظار راسره نه و
ګل نه و، بهار نه و چې نګار راسره نه و

د يار د بې مثاله حسن زه داسې مجذوب وم
د مينې او وصال په هوسونو کې غرق ډوب وم
د يار په يارانه کې چې اغيار راسره نه و
ګل نه و، بهار نه و چې نګار راسره نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

پتنګ چي سوځېده شمع هم سوځېده لمبه شوه
بورا په ژړېدو شو ځکه مړاوي يې غنچه شوه
هرڅه وه خو هيڅ نه وه چي مي يار راسره نه و
ګل نه و ،بهار نه و چي نګار راسره نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سترګو افسون

زما د مینې جهان د حسن لمر وړی دی
زما نه یې روح و روان په ډېر هنر وړی دی
****
د اسمان سپینه سپوږمې
زما د خیال ناوکې
د افسانو شاپېرۍ
خوږو شونډانو یې خوند د نېشکر وړی دی
زما نه یې روح و روان په ډېر هنر وړی دی
****

زما درد دوا نه لري
چې یار وفا نه لري
د عشق پروا نه لري
د پېغلتوب غرور یې شان د خېبر وړی دی
زما نه یې روح و روان په ډېر هنر وړی دی

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به ژړېږم مدام
دا مي د میني انجام
چي ستا د در شوم غلام
بیایې د زړونو ښکار ته باز د سپین غر وړی دی
زما نه یې روح و روان په ډېر هنر وړی دی
****
د تورو سترګو افسون
کړم آواره او مجنون
ورک مي آرام د ژوندون
په خپل بشر یې عقل د ټول بشر وړی دی
زما نه یې روح و روان په ډېر هنر وړی دی
****
زلفي په ناز جوړوي
زړه د عاشق نازوي
اور د هوس بلوي
د وصال لوبو ته یې د عشق بستر وړی دی
زما نه یې روح و روان په ډېر هنر وړی دی
فاروق د یار کړي صفت
بیان د زړه محبت
د عشق د راز حکایت
د یار ستایلو ته یې د شعر دفتر وړی دی
زما نه یې روح و روان په ډېر هنر وړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تېر پسي ارمان

عجب ښکلی دوران و ،ځواني وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه
درناوي تل د پلار او د مور وه
پاملرنه د ورور پر خپل خور وه
اتحاد ، اتفاق، نېکمرغي وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه
تل پر ځاي د مشرانو حرمت و
پر کشرانو د دوي شفقت و
يو و بل ته يې مرسته جاري وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه
ښځه ننګ او ناموس د افغان وه
شرم نه وه مېرمنه مو شان وه
محبت و ،خپلوي وه،دوستي وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه
ځنګ پر ځنګ مو په کار کي ځوانان وه
ښکلي پېغلی که ښکلي زلميان وه
زړونه پاک وه د ژوند ساده ګي وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعلیم خاوندان قدرمن وه
سرلوړي او غرور د وطن وه
که هرڅو غریبي وه ،خواري وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه
عقیده وه ، مسجد و ، ملا و
سوله ایزه ژوندون شاوخوا و
د ملا عقیده باوري وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه
د یوه دوست پر بل باندي پام و
و یو بل ته د زړه احترام و
رفاقت، صداقت، خواخوږي وه
هري خواته خندا ،خوشحالي وه
په چهره که څوک تور او که سپین و
فرق یې نه و عزیز نازنین و
میلمستیا وه، موسکا وه، خوښي وه
هري خواته خندا، خوشحالي وه
هر یو ځوان به ډاډه پر خپل ځان و
سر و مال به تر میني قربان و
خبر که څنګ ته رقیب و ، سیالي وه
هري خواته خندا، خوشحالي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځوانانو محفل به رنګين و
هر يو ځوان مو په ځير د شاهين و
بې شرابو مستي، بيخودي وه
هري خواته خندا،خوشحالي وه
لوړ تر هرڅه مقام د انسان و
که کافر و که خپل مسلمان و
هره هيله د زړه انساني وه
هري خواته خندا،خوشحالي وه
يا د اوس نه پرځاي شکايت دی
يا د تېرو ارمان تش عادت دی
يا يو خيال د فاروق زندګي وه
هري خواته خندا،خوشحالي وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مور

ستا د الله هو ږغ په غوږو کي همیشه لرم
ستا په قدمو کي موري زه خپله کعبه لرم
شپې،شپې ناارامه خوب دي ورک زما له لاسه و
اوس دي خوشحالۍ کي د خپل ژوند هیله پوره لرم
څومره به په شوق پسله درسونو ستا پر خوا راتلم
ستا د تناره د ډوډۍ خوند اوس هم پر خوله لرم
تل را یادومه ستا کیسې ، خوږې خبري مور
ستا د خدمت ټینګه اراده پر زړه پرته لرم
خداي دي مي بیا ورږ ستا د لاسو د ښکلولو کړي
خپل د ژوند تیارې ته ستا هر پند بله ډیوه لرم
دا به مي تقدیر و چي پردېس د بل وطن یم مور
بس د خپل نصیب څخه همدا یوه ګیله لرم
ډیر د ژوند کلونه د دیدن په انتظار تېر سوه
بیا د نه لیدو وېره پر زړه باندي درنه لرم
ستا نه که یم لېري،ستا دوعا راسره مل وي تل
ستا ناروغه ځان لره نن لویه اندېښنه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مورته

ستا صفت به زه پر کوم کلام بنیاد کړم
هر کلام به وي نیمگړی چي ستا نوم ورباندي یاد کړم

ستا د زړه مینه یو بحر، بې اغازه بې انجامه
ستا مقام د لرکو غر دی چي اوچت دی تر اسمانه
بل څراغ د خپل ژوندون به ستا وصیت او ستا ارشاد کړم
هر کلام به وي نیمگړی چي ستا نوم ورباندي یاد کړم

موري لاس دي زما پر سر و، ستا و نازته وم محتاجه
ستا د پاک لاس نوازش مي هرگز نه وزي د یاده
زه به تل ستا لارښووني د ژوند کړونو ته نهاد کړم
هر کلام به وي نیمگړی چي ستا نوم ورباندي یاد کړم

موري دامي خیال کي نه وه چي له تانه به جدا شم
ته به نه یې،زه به تل پاته یتیم پر دې دنیا شم
زه به نن په ژړا پورته د خپل خوږ زړگي فریاد کړم
هر کلام به وي نیمگړی چي ستا نوم ورباندي یاد کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستۍ شېبې د ژوند کي چي دي پاس پر تندي ښکل کړم
اخري وصيت دي دا و چي نښکي د لاري مل کړم
کاشکي زه په خپل کردار اوس پوره ستا د زړه مراد کړم
هر کلام به وي نيمګړی چي ستا نوم ورباندي ياد کړم

موري ستا و قدمو ته به تل زموږ زړونه پراته وي
جاويدان به ستا پر قبر د غاټول ګلونه شنه وي
ښېله تا نه به اوس څنګه خپل ناکامه جهان ښاد کړم
هر کلام به وي نيمګړی چي ستا نوم ورباندي ياد کړم

موري وې غريب پروره ،مظلومان دي نازول تل
فقيران که بېدايان وه،تا به يو شان يادول تل
ستا د ميني جهانونه به په ميني خپل اباد کړم
هر کلام به وي نيمګړی چي ستا نوم ورباندي ياد کړم

موري رب ته دي لاس پورته تل و موږ ته په دوعا وې
ته د خپلو اولادونو د ثمر په تمنا وې
ستا د ميني بل څراغ به رهنما د خپل اولاد کړم
هر کلام به وي نيمګړی چي ستا نوم ورباندي ياد کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ورځ د ښوونځی نه زما تلوار د کور پر لور و
خپل کتاب مي درته لوستی بل مي زړه کي شوق و شور و
ما ویل غر د ژوند د ستونزو به چپه لکه فرهاد کړم
هر کلام به وي نیمګړی چي ستا نوم ورباندي یاد کړم

په ژوندون کي که اوس هر څو لوي بری زما په کام شي
وړ د ټولو زمونږ دوستانو د عزت او احترام شي
چي ته نه یې هر بری به زه فناه په کام د باد کړم
هر کلام به وي نیمګړی چي ستا نوم ورباندي یاد کړم

موري کاشکي ته ژوندي وای، ستا وړوکی زوي نن ځوان دی
ستا خدمت کولاي نه شم بس پر زړه دا یو ارمان دی
په ژړا ،ژړا مي زیار دی چي زړه کلک لکه پولاد کړم
هر کلام به وي نیمګړی چي ستا نوم ورباندي یاد کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروور

مرګ خو حق دی‌د دنیا څخه رحلت شته
د نېکانو تل ژوندی نوم او عزت شته
د غمونو د دنیا سفر دي لنډ کړ
په نصیب دي د جنت ستر منزلت شته
دلته څوک نه‌شته چي تا وي ازار کړی
پر هر زړه ژوندی ستا یاد د محبت شته
ټوله ژوند ته د ښېګڼو فرشته وې
عاجزۍ کي دي ثبوت د لوي قوت شته
د ځوانی د عمر ګل دي مړاوي نه شو
ستا پر قبر د ګلونو طراوت شته
د ژوند شپې دي د پاک‌رب په یاد سبا کړې
هر عمل کي دي نښان د عبادت شته
و ملګرو ته کلک غر د ملګرتوب وې
هر بیان کي دي اثر د فضلیت شته
و مشرانو ته مثال د مشرتوب وې
و کشرانو ته دي پند او نصیحت شته
و اولاد ته مهربان،سپېڅلی پلار وې
عزیزانو سره یاد ستا د الفت شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسالت د ژوند پوره په سرلوړی شو
هر قدم کي دي ټولني ته خدمت شته
ژوند دي څه مرګ دي هم څوک په عذاب نه کړ
د پردي او دوست په خوله کي ستا صفت شته
که د وړونو پر سر ستا سیوری نور نه شته
کورنی سره ستا پانګه د غیرت شته
نه به ژاړو،په ویاړ به دي تل یاد کړو
پر ګفتار که د غمونو صراحت شته
اوس بیده شه په خواږه خوب ګرانه وروره
مورنۍ پاته ستا د لوي زړه شفقت شته
د وداع فرصت ناڅاپه مرګ رانه کړ
ستړي مشي ته پر قبر د زړه نیت شته
ناست دربار ته د پاک رب لاس په دوعا یو
د زړه صبر ته زموږ سره همت شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا ځل

دا ځل به دي سل ځله بارخوګان ښکلوم
بې شمېره به دي ښکلي سره شونډان ښکلوم
که یو ځل بیا تقدیر په ژوند لایق ستا د دیدن کړم
په مینه، په هوس به دي چشمان ښکلوم
که بیا سوو لاس په لاس، غاړه په غاړه، غېږ په غېږ
په شوق به لاندي باندي سپین ګرېوان ښکلوم
که بیا مي پر شونډانو کړه احساس ستا خوږه ژبه
ورو، ورو به یې د زړه په هېجان ښکلوم
که بیا څپانده زړه ستا د سیني تودوخه لمس کړه
تکرار به د سینې لعل و مرجان ښکلوم
که بیا تر بلي شپي پوري اوږده د وصال شپه سوه
وار، وار پرله پسي به دي ټول ځان ښکلوم
که ټوله شپه د یو بل په کتو نه مړېدلو
د زني خدایي خال به دي په شان ښکلوم
که بیا د زړګي راز راته بیان په یو نظر کړي
پر سترګو به دي پاس تور باڼوګان ښکلوم
که یو بل ته مو بیا اوږدي کیسي وي تر سهاره
ټومبلي پر پیکي به دي ګلان ښکلوم
که بیا مي ستا د زلفو په سایه کي خوب نصیب سو
په ناز، ناز به دي تور اوږده زلفان ښکلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی پېل

نوی پېل دی د مینې که د هیلو انتها ده
ده سپوږمي د ښوارلسمي که د یار د مخ ځلا ده
چیرته لیرې په تیاره کې
زه رڼا وینم په شپه کې
دا د نوي ژوند پېغام دی که زما د خیال دنیا ده
ده سپوږمي د ښوارلسمي که د یار د مخ ځلا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شنه زمریان

چي زما د توري شرنګ و
نه اورنګ او نه فرنګ و
نن چي خيال کړم په پرديو ،دامي حال دامي سزا ده
****
تر هغو به پردي بر وي
ناست به پاس زما پر سر وي
څو چي زه په خوب بيده يم،دا زما د خوب بها ده
****
نه دي پاته شنه زمريان نور
ميرويس خان او خوشحال خان نور
توره شپه د جهالت مي و تولني ته بلا ده
****
نه احساس د ورورلۍ شته
نه کوم څرک د ازادۍ شته
و مغروره جنګسالار ته وروروژنه هم روا ده
****
که پوهنه د خپل ځان کړم
خپل مقام به پر اسمان کړم
د پوهني روښني مي لارښوونکې د سبا ده
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارړم ګران هیواد ودان شي
بیرغ وړونکی د کاروان شي
د راتلونکي په ویاړ مي د صفت ژبه ګویا ده
****
کاشکي دا هیله رښتیا شي
خوږمن زړه ته مي شفا شي
د پاک رب و لوي دربار ته د فاروق د زړه دوعا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترانه

اي زمورِ ګران وطنه
د توفانو مېهنه
د توفانو مېهنه
ستا نه سر قربان زمورِ
*****
ته مو د لرغوني اريانا د مېړنو ننبه يې
ته د اويستا او ريګويدا د حماسو ننبه يې
د افسانو وطنه
د حماسو مېهنه
د حماسو مېهنه
ستا نه سر قربان زمورِ
*****
ته هغه باختر يې چي دي شان ته سکندر حيران و
ستا د هندوکش غر ده ته ختم د دا ټول جهان و
د جګو غرو وطنه
لويو دښتو مېهنه
لويو دښتو مېهنه
ستا نه سر قربان زمورِ
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې د برمک، ابومسلم او د طاهر خراسان
ستا هر زوي اتل و د پوهنې او جګړې پر مېدان
د لمر ختو وطنه
د شنو باغو مېهنه
دشنو باغو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
ته افغانستان يې د باتورو افغانانو کور يې
ته د ټولو مېشتو ميليتونو او قومونو مور يې
د مېړنو وطنه
د توريالو مېهنه
د توريالو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
ستا عظمت خپور و تر ډهلي او بخارا پورې
ستا د شان سايه وه د مشهد تر شاوخوا پورې
د شنو زمرو وطنه
د ننګيالو مېهنه
د ننګيالو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مې د میرویس او احمد شاه د ستر همت میراث یې
ته د اکبر خان او ایوب خان د شجاعت میراث یې
اې د نیکو وطنه
د یادګارو مېهنه
د یادګارو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
سترګې پټې کړې هر دښمن ستا خزانو ته وې
ستا پاکو سیندو ته وې، ستا و سر درو ته وې
د خزانو وطنه
ښکلو درو مېهنه
ښکلو درو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
ډېر افسوس چې یو ځل بیا دښمن په وینو رنګ کړلې
یو ځل بیا زخمي هغه مکاره زوړ فرنګ کړلې
د زخمي زړو وطنه
د کړاوو مېهنه
د کړاوو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیف چي ستا بچو ددې بلا ښخه په امان نه کړې
نه یې کړې ودان او نه یې سیال ددې جهان نه کړې
د کنډوالو وطنه
ورانو ښارو مېهنه
ورانو ښارو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
تا د استعمار د ګورستان لقب ګټلی دی
هر یو چي راغلی دی نو سر یې خپل بایللی دی
د سرو لمبو وطنه
لویو قصو مېهنه
لویو قصو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
خدای دي ژر پر موږ باندي دا توره شپه رڼا لري
مینه،محبت دي خدای زموږ پر زړونو بیا لري
د سرو لعلو وطنه
د هوسو مېهنه
د هوسو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا پر پاک اسمان به تابان لمر د آزادۍ ځليږي
خبر که لا ستا پر لمن هغه زوړ ښامار خوځيږي
د سپېڅلو وطنه
نوي نسلو مېهنه
نوي نسلو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
ستا پر بله شمعه به پتنګ په نڅېدو راځي
ستا په شنو باغو کي به بورا په ګرځېدو راځي
د ترانو وطنه
د سرو غنچو مېهنه
د سرو غنچو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ
*****
تا ته ملامت دی د تېر سوي زوړ دوران نسل
کاشکي تا ودان کړي زموږ ښکلی نوی ځوان نسل
د نوښتو وطنه
نوي فکرو مېهنه
نوي فکرو مېهنه
ستا نه سر قربان زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملګری

زه یم پښتون د پښتنو ملګری
د اول‌میر د ترانو ملګری
شعرونه لولم د خوشحال په ژبه
یم د اتڼک د توفانو ملګری
د باچاخان په قلم لیک زده کوم
زه یې د ننګ او د پښتو ملګری
نوم به ژوندی کړم د خدایي خدمتګار
یم د غني دزولنو ملګری
حمزه جنت ته د پښتو سره لاړ
زه د حمزه د ښو شعرو ملګری
زه به یو لاس کړم لروبر پښتانه
د ملنګ‌جان د ولولو ملګری
ورورته به‌لاس دوست ته به غېږه ورکړم
یم د میرویس د شنو زمرو ملګری
ملت به یو ډېورند به مات کړمه زه
یم د خېبر د حماسو ملګری
زمونږ هره خور ده د مېوند ملاله
زه د مېوند د میړنو ملګری

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ هر يو ځوان دي د پلرونو وياړ
زه يم د نوو شازلمو ملګرى
په عاجزۍ کې به غرور وي زما
يم د رحمان د فلسفو ملګرى
کړم به جهاد د خرافاتو پر ضد
زه يم د نوو مفکورو ملګرى
د جهالت پر ضد پاڅون دی زما
يم دامان د نوښتو ملګرى
ما د توپک په ځاي قلم غوره کړ
يم د پښتون قام د بچو ملګرى
توري تيارې ته به رڼا راولم
يم د سبا د پلوشو ملګرى
زړه به ورنه کړمه پردي ملکو ته
يم د بابا د هسکو غرو ملګرى
د زړه د درده فاروق شعر ليکي
يم د دردمنو زخمي زړو ملګرى

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هيله

دا خر د جهل پرېږده،نن پوهنه د خپل ځان کړه
دلدل د علم واخله او تر پښو لاندي اسمان کړه
وطن ورانول بس کړه،خدمت د خپل ولس کړه
د خوب شخه راویښ سه ځان مخکښه د کاروان کړه
جګړو کي تباهي ده،نیستي او بربادي ده
یوالی او وروري نن بیا غوښتنه د زمان کړه
کردار دي د اتل کړه،نیکي د لاري مل کړه
په نوو کارنامو تازه دا زوړ نوم و نښان کړه
بیمار روح ته شفا سه،زخمي زړه ته دوا سه
د قوم او د ملت نوم بیا نن لوړ پر ټول جهان کړه
نیکي په دې دنیا کړه،توښه یې د عقبا کړه
د ژوند د حقیقت لټون په شعر د رحمان کړه
بې کبره بې ریا سه،خالق ته په دوعا سه
ویل او کول دواړه د رښتیني مسلمان کړه
په یاد د کردګار سه،عاجز یې د دربار سه
په پټه خوله،په زړه کي عبادت د پاک سبحان کړه
زړه پاک کړه د نفرت نه،کینې او حسادت نه
د زور شخه بېزار سه سیاست د باچاخان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مور ده که مو خور ده ،مېرمن که مو د کور ده
عزت او درناوي يې تل په شان د يو افغان کړه
تر څو يې وروسته پاته،د ټولو خلکو شاته
د علم او تخنيک لاسته‌راوړني د خپل ځان کړه
که ګران‌درته وطن دی،د سرو ګلونو بڼ دی
د عقل په زور مات نن زنځيرونه د شېطان کړه
د نوي نسل ځوان سه،پر نوي لار روان سه
زاړه رهبران پرېږده غوره نوي مشران کړه
فاروق وايي بېدار سه، پاڅون لره تيار سه
د سولي د پاڅون سره يوځاي نوي ځوانان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېغام

اي وروه لږ خو واوره یو پېغام درته لرم
د زړه د میني ډک یو تود سلام درته لرم
د نورو ملتونو د ژوند طرز ما تجربه کړ
د ژوند د تجربو څخه الهام درته لرم
نېکمرغه به موږ هله یو چي علم د خپل ځان کړو
د پوهي د رڼا څخه انعام درته لرم
ولس مو زړه ور، خاوره مو زر ده بیا هم خوار یو
د ستر جمال الدین د خولي کلام درته لرم
که لاس راکې چي ببرته راژوندی زوړ تمدن کړو
ویاړ او خوشحالي به زه مدام درته لرم
د نوي عصر پوهه له اسلامه ده غلا شوي
ځلانده حقیقت د پاک اسلام درته لرم
راپاڅه دغه ګران وطن ودان جنت‌نښان کړو
د داسي یو جنت د میو جام درته لرم
د خاورو نه راجګ شه، د اسمان په لور تکل کړه
د نوي پرمختللي ژوند پیام درته لرم
بچیانو د وطن ته که د وړونو په شان ګوري
ستاینه او دوعا د خاص و عام درته لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ته یې تل به زه یم، که زه نه یم ته به نه یې
دا ځکه یادوم چې احترام درته لرم
د فکر د بدلون سره د ژوند بدلون یو ځای وي
ته پېل نوی کار کړه زه انجام درته لرم
فاروقه! که دي زړه له خپله لاسه تل زخمي دی
زخمي زړګي ته وایه التیام درته لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیاجوړونه

بیا جوړونه د وطن نوي فکرونه غواړي
نوي ځوانان،نوي مشران، نوي خیالونه غواړي
بیا جوړونه د ښارونو که اسانه بریښي
بیا رغول د مفکورو نوي چلونه غواړي
نفاق مو بس دی،اتفاق ملي وحدت په کار دی
داسي وحدت نوی پېمان،نوي قولونه غواړي
د زړو ډلو او حزبونو ړنګول په کار دي
د نوي عصر مفکوري نوي ګوندونه غواړي
که چا د ښي او چا د کیڼ په لور شعار ورکاوه
نوي تګلاره مو اوس نوي شعارونه غواړي
که غواړو بیا د تمدن په قافله کي وسو
د سفر عزم مو نن نوي کاروانونه غواړي
که د لیدلوري نه مو هر څه تور یا سپین ښکاریده
زموږ نړی‌لید اوس تنوع،نوي رنګونه غواړي
د ځان ځانی په عوض مینه او دوستي په‌کار ده
ملي احساس نوی فرهنګ،نوي دودونه غواړي
چي پوهه نه وي نو رښتیني آزادي هم نه وي
دا آزادي نوی کتاب، نوي درسونه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خرافاتو د حصاره راوتل په کاردي
نوی تصمیم مو هم جرئت هم نوښتونه غواړي
چي مو په باغ کي بلبل بيا په مستۍ پېل وکړي
د باغ بلبل نوی مالیار، نوي ګلونه غواړي
د لوي څښتن د پاک دربار نه د مدد په هيله
نوي دوعا مو شپه او روځ عبادتونه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تګ لاره

ملګرو نن نېشه د پېماني پر زړه لرم
مست نه یم زه د وینو سرې پیالې پر زړه لرم
د چا نه ګیله وکړم چاته ووایم خپل درد
دوستانو زه جفا د زمانې پر زړه لرم
د کومه یم راغلی، چېرته ځمه نه پوهېږم
د ژوند د سفر تلونکي قافلې پر زړه لرم
مفهوم د عبادت را ښخه ورک سو په مسجد کې
پټ راز زه د ملا د مېخانې پر زړه لرم
انسان یې اصلاح نه کړ پېغمبر که فېلسوف و
د خپل بابا ادم ښخه ګیلې پر زړه لرم
د هر انسان جوهر د نیک او بد ښخه جوړ سوی
مدام د ښه او بد مقابلې پر زړه لرم
انسان د چاپیریال په ورانولو ځان برباد کړ
و پایلو ته یې ډېري اندېښنې پر زړه لرم
د جهل د تیارې سره په جنګ یم تل مدام
د پوهې د دنیا بلې ډېوې پر زړه لرم
انسان د نړېوالې سرمایې د نظام ښکار سو
خلاصون ته یې زه نوې مفکورې پر زړه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه-چاپېریال-انسان دري ستني د نظام دي
د نوي نظام کلکي ارادې پر زړه لرم
تګلاره مي د "زورنه کارولو" غوره کړې
د ستر فخر افغان د خولي قصې پر زړه لرم
د ژوند د حقیقت اسرار مي ټول ژوند لټولي
د ژوند د ګوهر پټې خزانې پر زړه لرم
سوالونه ټوله پاته بې جوابه زه روان یم
هر څو که د اوږده ژوند تجربې پر زړه لرم
له زده کړو نه وروسته فاروق پوه سو چې پوه نه دی
د نوو زده کړو نوي ارادې پر زړه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملګرو

له خوبه ویښ سئ وار راغلی د بدلون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
****
تر څو به تور قوت حاکم وي
تر څو به ظلم د ظالم وي
راځی چي یو سو ، دا آواز د پښوستون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
*****
تر څو به هر لور ته چوپتیا وي
هره روا به ناروا وي
نوی تحریک مو ماتونکی د سکون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
****
راځئ چي وران وطن آباد کړو
ناهیلي زړونه بیرته ښاد کړو
د ولس واک مو د نظام نوی قانون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ چي دا جهان بدل کړو
غلا شوی علم بیرته خپل کړو
علم یو ستر شرط د ټولني د سمون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
****
زموږ سیاست دي سوله ایز وي
پر تشدد دي تل بندیز وي
د نوي نسل د ځوانانو پاک تړون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
*****
زموږ سلاح ده زموږ ژبه
د هر ظالم پر زړه ده تبه
یوموټی توب مو ورکونکی د بیلتون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
****
پر ملګرتوب چي ژوند بنیاد شي
نو به افغان هله آزاد شي
دا نړۍ لید مو نوی زېری د خلاصون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه په يو رنګ کي هر رنګي ده
د مفکورو تر منځ سيالي ده
بېل فکر، يو هدف مو اصل د ژوندون دي ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
****
د خوشحال خان د خولې کلام دی
هر مبارز ته يې پېغام دی
يا به پېروز سي يا يې سپين کفن ګلګون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو
*****
فاروق ولاړ پر خپل مرام دی
له باچا خانه يې الهام دی
د زړه تکل د باچا خان پر لاره تلون دی ملګرو
عزم د پاڅون دی ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان

بد عادت دی د افغان
پر هر څه دی بدګمان
په غیبت نه ستړی کیږي
تل صفت کوي د ځان

د جنګونو قهرمان
مغرور ګرځي پر اسمان
نړۍ وختل سپوږمۍ ته
دی د خره سره روان

خپل هیواد یې کړ بیابان
د پردیو په فرمان
د پیسو په مقابل کې
پروا نه کړي د انسان

تل د تیرو په ارمان
ځکه خوار دی پر جهان
د راتلونکي فکر نه کړي
تربنه پاته دی کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ویاړ د میروېس خان
ځان ته وایي نامي ځوان
تش په تیرو چي تل ویاړي
وي ساده، جاهل، نادان

فتنه‌گر ګوندي مشران
ټول د پاک دین تجاران
په نامه د کفر یاد کړي
هر نوښت د مسلمان

پرهیزګاره د زمان
خو باطن یې د شیطان
د مکي ځخه راستون شي
خیرن پاته یې وجدان

که دي کور نه دی ودان
که هر څو یې پریشان
د افغان زویه راپاڅه
دا دی خواست د نن دوران

تواضع کړه د رحمان
د دردمنو زړو سلطان
تل د زور نه‌کارول و
سیاست د باچاخان

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم وګڼه خپل شان
وکړه عهد او پېمان
په پوهنه ځان سمبال کړه
یې تر څو به سرګردان

که څوک ما ته وي حېران
د زړه درد مي کړبیان
د افغان د وجود غړی
تر افغان یم تل قربان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند کاروان

بې تمځایه دی روان د ژوند کاروان په ورو ،ورو
د ځوانی پر ګل راتلونکی دی خزان په ورو،ورو
ما پېدا نه کړه د ژوند د حقیقت سرچینه
خوځیدونکی دی سراب د وچ بیابان په ورو،ورو
پر زړه پاته شو د ځان د پیژندني ارمان
رانه ورک شو د خپل ځان سره جهان په ورو،ورو
ټوله عمر وم د خپل خیالي جهان زنداني
نه شکیدونکی شو زنځیر د لوي زندان په ورو ،ورو
د ثروت ارزښت چي لوړ شو د انسان تر مقام
صرف د ځان مینه پر زړه شوه د انسان په ورو ،ورو
جهالت چي غوړولی تور وزر پر هر لور
لمر تاریک په سپینه ورځ شو پر اسمان په ورو ،ورو
د ژوندون پر فضا ګرځي خړه توره اوریځ
اوروي مي غم پر سر لکه باران په ورو،ورو
د ناخوالو سمندر کي ډوبیدل شوه حتمي
زما د هیلو کښتۍ ماته کړه توفان په ورو ،ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه وینا

زه یم د زړونو شاعر، شعر مي الفت زېږوي
په هوسي زړونو کي اور د محبت بلوي
نوې هستي،نوې دوستي، نوې وروري راولي
نوي ژوندون ته نوی رنگ د صداقت لتهوي
د بورا بیا راستنول غواړي د میني باغ ته
د مینه‌پالو په لور لاس د رفاقت غځوي
نور د ظالمو حاکمانو څه پروا نه لري
نوي نظام ته ښوونځی د عدالت جوړوي
د زور زیاتي او د جگړي په ضد پاڅون هڅوي
د تشدد په ضد د سولي سیاست خپروي
څوک چي د دین په نامه‌دین ته سپکاوی کوي تل
دي جاهلانو ته یو درس د اسلامیت زده کوي
چي د پردي په چوپړ ځان ملي اتل جوړوي
په داسي زړونو کي د پلار،نیکه غېرت پاروي
چي د پوهني مشعل وړاندي کور په‌کور گرځوي
سپیڅلې لاره د رښتیني انسانیت خوښوي
یو زه خو نه یم چي اواز د پرگنو جگوم
خداي‌دي لیکوال او شاعران د دې ملت ډېروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې د مینې په دنیا کې ځان ناکامه ګڼي
هغو ته بیا د زړه بایللو ستر قوت ورکوي
د شاعرۍ رازونه پټ په ښکلو سترګو کې وي
زما ژوندون د ښکلو سترګو شرارت بدلوي
فاروق نور شونډې د خوبانو په خوله نه ورکوي
زخمي شوندان یې د سرو شونډو حرارت سوځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کلي یاد

په پردي ملک کې مې زخمي زړګی اسیر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی
******
چې د لرکوه هسکې دړې په یاد کړم
د پیر دونبال بابا مېلې په یاد کړم
د ملاعثمان نیکه باغچې په یاد کړم
چې لا ژوندی یم نو د دې یادو تاثیر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی
******
د ملا صحبت نیکه زیارت دې وي تل
د صدیق خان نیکه عزت دې وي تل
د شېر حمله دا لوړ همت دې وي تل
په دوی تل ویاړو دا اواز دا مو تکبیر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی
******
د فراه رود اوبه خوږې چېرې شته
زموږ د کلي افسانې چېرې شته
بل د نظر ماما قصې چېرې شته
د خپل ټاټوبي نه جدا دا مې تقدیر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

******

هېره به نه‌شي د ژوندهغه شېبه
ورځ د نوروز او د لوچاک دامنه
ګل د پتروکي پر هرخوا غوړېده
څه چاره وکړم چي د ژوند داسي بهير دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی

*****

چي د سهارنسیم پر غرو لګېدی
د پسرلي لمر پر شنو دښتو ځلېدی
پر ابلکي بوي د شبو خپرېدی
پر زړه مي تل د ښو یادونو یو تصویر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی

******

تېول ژړوي د خان محمد شهادت
ماته الهام دی د هغه سخاوت
مېلمه پالنه، پښتون والی، غېرت
د وطن والو په خدمت باندي تشهیر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی

******

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دولس زره شهیدانو په نوم
د غېرتي ښکلي ځوانانو په نوم
د ننګیالیو شاه زلمیانو په نوم
شمله مي جګه، نوم مي لوړ، پاک مي ضمیر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی
******
نوي ځوانان مو د پلرونو ویاړ
د علم او فن، نیکو کارونو ویاړ
د پښتنو د ښو دودونو ویاړ
شکر دی خدایه چي مو کلی پري تنویر دی
د خوږ وطن په یاد زهیر دی
******
زما آرزو وه و خپل قام ته خدمت
د پلار او مور او د مشرانو حرمت
ټول پوره نه شوه ځکه یم ملامت
زما دوران تیر شو اوس نو وار زما د سمیر دی
د ګران وطن په یاد زهیر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شهيدانو ياد

راځئ چي ياد کړو شهيدان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
****
خداي وربخښلی لوړ همت و
يو ښه مثال د سخاوت و
خان محمد ګران پر هر انسان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
****
و ټوله قوم ته افتخار و
د هر بېوزله د زړه يار و
هغه شهيد جېلاني خان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
*****
راځئ شهيد غلام حېدر په ياد کړو
د لوي غېرت پولادي سپر پياد کړو
داسي زلميان نوم و نښان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل لوي شهيد مو انجينر و
د قوم د ښو هيلو ثمر و
لمانځو به داسي شازلميان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
****
قاسم د ننګ او د غېرت مثال و
د بارکزو د شهامت مثال و
نوم يې دی ستوری پر اسمان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
*****
ياد کړو هاشم او قاسم جان شهيدان
د مور او پلار پر زړه يې پرېښود ارمان
پر وير يې کښېنستل دوستان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
*****
ډېر په ارمان کې مو رستم شهيد سو
چي قرباني د يو دښمن پليد سو
تل به ژوندي وي سره ګلان د وطن
له دنيا تللي ښه ځوانان د وطن
****

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر یو شهید زمونږ په یاد دی
که یې نوم یاد دی که نایاد دی
کله هیریږي شنه زمریان د وطن
له دنیا تللي ښه ځوانان د وطن
****
خدایه ژوندي زلمي اباد لري
د شهیدانو روح مو ښاد لري
وړاندي روان دي وي کاروان د وطن
له دنیا تللي ښه ځوانان د وطن
****
راځئ چي جګ رږغ د دوستۍ کړو
ورکي ریښي د بدبینۍ کړو
بیا به نوم لوړ کړو پر جهان د وطن
له دنیا تللي ښه ځوانان د وطن
*****
خدایه ګذر مو پر خپل کور کړي
نصیب زیارت د پلار و مور کړي
د فاروق زړه دی په ارمان د وطن
له دنیا تللي ښه ځوانان د وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېزاري

د دې ژوند د سلسلې څخه بېزار يم
هم د کال هم د شېبې څخه بېزار يم
هر ګړی د دې ژوندون راته دوږخ دی
د بل ژوند د افسانې څخه بېزار يم
نه تېرېږي د ژوند هره ثانيه کال سوه
د زمان د قافلې څخه بېزار يم
په شپه وينښ،په ورځ بېخوبه ناارامه
هم د ورځې هم د شپې څخه بېزار يم
ما ګاللی د زړه درد په پټه خوله دی
د ژړا او د ګيلې څخه بېزار يم
زما ژوند د ناکامۍ ترخه کيسه ده
د تندي د نوشتې څخه بېزار يم
ته دبل وې خو ستا مينه وه زما برخه
د ازل د فېصلې څخه بېزار يم
په نښې مي د زړګي علاج ونه سو
د شرابو د پيالې څخه بېزار يم
خپل اجل مي ننګولی دی څو ځله
د اجل د حوصلې څخه بېزار يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زارۍ، په عبادت څه حاصل نه سوه
د ګناه او د توبې څخه بېزار یم
زه له خدایه، خدای زما څخه ناراض دی
د کعبې او بت‌خانې څخه بېزار یم
پورته، کښته، شرق او غرب راته یو شان سوه
د نږدې او فاصلې څخه بېزار یم
د انسان پر نېک سیرت مې عقیده وه
نن د خپلې عقېدې څخه بېزار یم
ښه مې وکړه، بد زما کره مېلمه سوه
نن د ښو د ارادې څخه بېزار یم
زه د نورو، نور زما څخه په تنګ دي
د دې ژوند د فلسفې څخه بېزار یم
نه پوهېږم چې څه پټ او څه ښکاره دي
د پردې او بې پردې څخه بېزار یم
د خپل زړه په رازویلو منصور جوړ سوم
اوس د خپل دار د حلقې څخه بېزار یم
چې اخستی یې زما د وینو رنګ دی
د اسمان د کنارې څخه بېزار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زاړه یادونه

په ارمان زاړه یادونه یادومه
د وصال د شپې خوبونه یادومه
ستا خندا ، خوږې کیسې، د ناز خبري
ستا د مخ رنګین خالونه یادومه
چي په یاد د وصال شپه شي
د هوس خوږه شببه شي
پر زړګي راټول غمونه
د توفان یوه څپه شي
د سرو شونډو هوسونه یادومه
ستا د مخ رنګین خالونه یادومه
توره شپه پر موږ رڼا وه
د سپوږمۍ د مخ ځلا وه
ستا د سترګو اشارو کي
د مین زړه تمنا وه
پر زړه پټ پراته رازونه یادومه
ستا د مخ رنګین خالونه یادومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مو مینه ابدي وه
جدایي هم ازلي وه
د ناکامه عشق غمونه
نوشته زما پر تندي وه
خپل د اوښکو سېلابونه یادومه
ستا د مخ رنګین خالونه یادومه
نه علاج زما د جنون شته
نه څه هیله د بدلون شته
نه اجل راځي زما خوا له
نه امېد د نور ژوندون شته
بېهوده د زړه دردونه یادومه
ستا د مخ رنګین خالونه یادومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدايي ښايست

يار هغه چي په يارۍ يې اعتبار وي
کله هو او کله نه، د زړه ازار وي
د ګلونو امېل هله سي زړه وړونکی
چي د سپيني، نازنيني غاړي هار وي
د ګلاب د ګل ښکلا هله ښکاره سي
چي ټومبلی پر پيکي د خپل نګار وي
د سنګار مخونو زېب تر مخ پرېولو وي
رښتيا ښکلي په خدايي ښايست سنګار وي
که د ميني په پټ راز باندي ځان پوه کړي
په رښتيا مينه نعمت د کردګار وي
که څوک عشق ته د ګناه په سترګه ګوري
روح و تن يې د ګناه په حس بيمار وي
د ټولني رواج ميني ته خنډ نه سي
د زړه هيله د وصال د شپې تکرار وي
جاويدان پر زړه تازه د ميني اور وي
کله بله سره لمبه، کله انګار وي
زمان ودري شېبه اوږده پيړۍ سي
چي فاروق د يار ديدن ته انتظار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ابدي عشق

خدایه د مرګ یو بل مهال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم
د ژمي باغ کي مات وزری بلبل
بېهوده ګرځم پر وچ بوټي د ګل
لېري پرواز ته نوی بال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم
د زړه فریاد مي بې اثره پاته
د میني هڅه بې ثمره پاته
د عشق اظهار ته بل کمال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم
په تصور کي لا زوړ یار انځور دی
لا مي زړګی په زاړه درد رنځور دی
نوي نګار ته نوی خیال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم
پر زړه ژوندی بیا د وصال هوس دی
د شاپېریو د جمال هوس دی
خوب ته د یار په غېږ کي ټال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګي د میني یو نظر لټوي
شونډې د سرو شونډو شکر لټوي
د بې سهاره شپې وصال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم
زړه مې مجنون دی خو لېلا نه وینم
د لېلا مینه او وفا نه وینم
د ابدي عشق بل مثال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم
په بد مرغۍ کې تېر کلونه زما
پاته پر زړه ټول ارمانونه زما
دا ځل نېکمرغه نوی کال غواړم
زړه ته د میني بل مجال غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساقي ته

ساقي مه پرېږده خالي جام چي د جام زړګی به مات سي
ډېوه بله کړه ماښام ته، د ماښام زړګی به مات سي

شپه ده نوې پېښل سوې، زه تر اوسه لا خمار يم
ته ډک جام د ميو راکړه د انجام زړګی به مات سي

نن مي نيم جام په کار نه دی، ته يو خم د ميو راکړه
د خمار زړه د دردونو د پېغام زړګی به مات سي

زه خمار د چا د ميني، په يو جام نه نښه کېږم
ته که زما په جام شريک سې د ابهام زړګی به مات سي

پټ رازونه پر زړه شور کړي، زه لا پټه خوله خمار يم
ته د جام نښه ګويا کړه د کلام زړګی به مات سي

د مسجد لاره کړه هېره، زړه نن جوړ د عشق محراب دی
د ريا عبادتونو د امام زړګی به مات سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نېشې کې د جامونو د یار ښکلی مخ انځور کړه
د نړۍ د ښایسته وو د رسام زړګی به مات سي

په یو جام که فاروق هېر کړ تصور د یار د شونډو
د ناکامه هوسونو د الهام زړګی به مات سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه څه ده

نه پوهېږم مینه څه ده
چا ته هیڅ چا ته هرڅه ده
مینه اوښکې دي ، ژړا ده
د بې خوبه شپو بها ده
مینه غم دی، خوشحالي ده
هم دوستي هم دښمني ده
مینه مرگ دی، زندگي ده
هم هستي ده هم نېستي ده
مینه ورځ ده، مینه شپه ده
د توفان یوه څپه ده
مینه درد ، مینه دوا ده
هم ښرا ده، هم دوعا ده
مینه ټوکې دي، خندا ده
د خوږو شونډو موسکا ده
مینه بوی د سرو گلابو
مینه خوند د سرو شرابو
مینه څاڅکی د شبنم دی
د نرگس د سترگو نم دی
مینه شمعه، مینه گل دی
هم پتنگ دی، هم بلبل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه ساز، مینه اواز دی
د عاشق د زړګي راز دی
مینه تار ، مینه رباب دی
د شاعر د زړه کتاب دی
مینه ښاخ د نسترن دی
حرارت د سپین بدن دی
مینه خوب دی، مینه خیال دی
د جانان د زلفو تال دی
مینه حسن دی ، جمال دی
توري سترګي ، زرین خال دی
مینه رنګ ، مینه سنګار دی
هم هوس ، هم انتظار دی
مینه کټ ، مینه وصال دی
د وصال دشپې کمال دی
مینه پټ د سترګو راز دی
د جانان د شونډو ناز دی
مینه درد ، سوز او ګداز دی
په خلوت کي راز و نیاز دی
مینه رنګ د شنه اسمان دی
مینه لطف د پاک سبحان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاکا ته

زړه که مي خوښ که په ژړا دی
که پر سر بار د ژوند غمونه
تاته مي تل لاس په دوعا دی
خداي خو دي درکړي جنتونه
ته ملایکه د اسمان وې
که په جامه کې د انسان وې
پرون که نن او که سبا دی
پر زړه تازه دي ستا یادونه
په صوفي توب کي معظم وې
پردي او دوست ته محترم وې
سپیڅلی ژوند دي هویدا دی
موږ ته سرمشق ستا محنتونه
ښه ته عاجز وې بې ازاره
بد ته ناصح وې بې قراره
په یوه خوله شاه و ګدا دی
چي یادوي ستا خدمتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمورِ به دعوه ستا به خندا وه
ستا نصیحت ته به مو شا وه
نن بېګانه دی که اشنا دی
ورته عزیز دي ستا فکرونه
تل به مثال ستا عقیده وي
د نوي عصر مفکوره وي
خبر که ناراض اوس هم ملا دی
که لا پر خوله دي زنځیرونه
ما ویل زړه به خپل صفا کړم
ستا نه د عفوي تمنا کړم
زړه مي په شور په واوېلا دی
جاري د اوښکو سېلابونه
زړونه به هله مورِ کرار کړو
چي خاوره ښکل ستا د مزار کړو
بیا نو جنت پر مورِ روا دی
بیا به پوره شي ارمانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کله

کله مړاوي ګل، کله بلبل پر ارغوان وم
ما زړه ورکوی،کله به زه هم پر چا ګران وم
کله به پر زړه راټول غمونه دریابونه
کله به خندا، کله د زړه د تل فغان وم
کله نوش‌دارو، کله ازار د زخمي زړونو
کله زه ثواب، کله ګناه د ټول جهان وم
کله به د یار د وصال هیله خوب او خیال و
کله اوږده شپه موړ په وصال د خپل جانان وم
کله به په وینبه د زړه هر مراد حاصل و
کله به په خیال کي د ځپلي زړه ارمان وم
کله به شبنم، کله باران، کله ژلۍ سوم
کله توفان وړم، کله پخپله یو توفان وم
کله بریالی، کله ناکام په خپل مرام کي
کله پر شا تلم، کله همګامه د زمان وم
کله لار هواره، کله خنډ لوړي، ژوري
کله پاتېدم، کله مخکښه د کاروان وم
کله سترګي پټي، له جهانه ناخبره
کله ستورمزلی، ځیر په لور د کهکشان وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله ګنج د پوهي ، کله بار د ناپوهۍ وم
کله پر اس سپور، کله د خره شا ته روان وم
کله د سیالۍ او دښمنۍ غوره مثال وم
کله د ورورى او محبت عالي نښان وم
کله ملا تړلې د زاړه فکر بدلون ته
کله زه بندي د زاړه فکر د زندان وم
کله مي پر پښو د خرافاتو پنډ زنځير و
کله به زه زوړ ،کله د نوي عصر ځوان وم
کله د چا دوست،کله پردی وم له دوستانو
کله د هر چا ،کله یوازي د خپل ځان وم
کله به مي سر پروت و د چا په قدمو کي
کله به د باز غوندی مغرور پاس پر اسمان وم
کله به د قوم،دین او مذهب په نامه یاد وم
کله صرف انسان،عاجز بنده د پاک سبحان وم
کله مېخانې ، کله مکې ته ور روان وم
کله سرګردان ، کله پر لاري د رحمان وم
کله لاس کي توره ،کله ناست وم په جرګو کي
کله تش په نوم ،کله رښتینی مسلمان وم
کله په یوه ،کله په بل مخ راڅرګند وم
کله به ښیښه ،کله د تور دېوال په شان وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله تور او سپین، کله د شرق، کله د غرب وم
کله د پراخه نړۍ لید خاوند افغان وم
کله مې په پاک زړه پر هر چا باندې باور و
کله زه فاروق د ژوند پر هر څه بدګمان وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افسوس

بد نصیب پر زړه غمونه د هجران اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

ستا د سترګو د افسون پر زړه اثر دی زما
د وصال ناکامه هیله یي ثمر دی زما
بانهوګان یي پر زړه غشي بیا عیان اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

تصور کي مي تازه دي ستا خوږې خاطرې
ستا وعدې،ټینګ قسمونه،ستا د میني کیسې
په شپېو،شپبو مي اوښکي پر ګریوان اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

په برخلیک کي چي لیکلې تنهایي ده زما
جدایي له خپله یاره ابدي ده زما
کړاوونه مي پر ژوند لکه باران اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیهوده مي فکر نوي اندیښنې لټوي
پر زاړه انګار د اور بلې لمبې لټوي
یو په بل پسې یادونه د جانان اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

نور څه نه دي دا ملنډي د تقدیر دي افسوس
ګلان مړاوي ،بوراګان د باغ زهیر دي افسوس
پر چمن مي نن اغزي د وچ بیابان اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

کاشکي نوی پېل زما د تېر ژوندون وای ممکن
ستا د میني،ستا دیاد څخه خلاصون وای ممکن
هر ځل هڅه د دردونو بل توفان اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

زما په برخه چي وړتیا د زړه بایللو وه تل
ناکامي یې هم فاروق ته د منلو وه تل
که هر څو پر ژوند د ستونزو یو جهان اوروي
د بخت ستوری مي نن کاڼي د اسمان اوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند پرخه

ای د میني د خوږو شېبو یادګاره
ژوند مي تېر سو ستا په یاد سترګي پر لاره
ستا خندا ، ستا کیسې اورم تل په خیال کي
دا که ورځ وي که شپه ناست یم تر سهاره
ستا تر میني څنګه تېر په خپل اختیار سم
ما خو ستا مینه منلې بې اختیاره
ستا په هیله په ناهیلي زړګي ناست یم
که ژوندی یم نو ژوندی یم ستا د پاره
جدایي چي مي سوغات د خپل نصیب وه
څه ګیله اوس له رقیبه، له اغیاره
بخت یاري راسره ونه کړه ای دوسته
پر ځوانی مي ژمی راغی بې بهاره
د ژوند پرخه راښکاره سوه پر وېښتیانو
خو پر زړه لا ارمانونه بې شماره
اوس چي وس د واړندي تلو په ما کي نه سته
څه تو پیر چي وړاندي غر دی که هواره
څوک د درده سرګردان پر طبیبانو
زه تر درد د بې دردۍ څخه بېزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس همدا چې یې ستا مینې ته پیدا کړم
زه یم تل شکرګذار له کردګاره
د غرور سره دي ژوند راکړ خالقه
مرګ هم غواړم ابرومند ستا د درباره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وصیت

که زما پر قبر ټول دوست او دښمن سي
که مي ځای د پیردونبال بابا لمن سي
که مي یاد څوک په دوعا کړي پسله مرګه
نو به هله خوشحال روح زما د بدن سي

که تر سترګو اوښکي توي زما د جانان سي
که په یاد یې زموږ د میني هر مکان سي
که بخښنه راته وکړي په خپل زړه کي
نو به هله سلامت زما ایمان سي

که پر نېک عمل حساب زما کردار سي
که ګمراه زړه د بخښني سزاوار سي
که د ښو پله درنه زما تر ګناه وي
نو به هله پر ما لطف د کردګار سي

که راشین د غاټول ګل زما پر مزار سي
که پر ګل راتوي څو څاڅکي د بهار سي
که یې زخم ته د زړه د چا نظر سي
نو به هله زما د زړه پټ راز اشکار سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که زما نوم و اولاد ته افتخار سي
که اولاد په ښو کي وړاندي تر خپل پلار سي
که مي روح په ویاړ ووایي زما زوی دی!
نو به هله زما روح ابد کرار سي

که د ژوند وروستۍ شپه پر خپل وطن سي
که سپین سان د خپل وطن زما کفن سي
که د مرګ پر بستر ټول وي خویندي، وروڼه
نو به هله اسان تېر سخت زکندن سي

که زما نوم د وراره کله په یاد سي
که یې زما ویل د ژوند کړو ته نهاد سي
که مي یاد کړي د خوښۍ په هر محفل کي
نو به هله زما روح ابدي ښاد سي

که مي دا شعر د ژوند اخر وصیت سي
که مي دا کلام و چا ته نصیحت سي
که یې پسله دې نېکۍ ته د زړه نیت سي
نو به هله پوره زما دروند رسالت سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښځې مقام ته

هرې غزا کې وې میرمنې د مړو تر څنګ
د توریالو تر څنګ
تر نارینه ؤ پاته نه وې د غیرت په حساب

میوند یې وګټه، مثال شوه د غیرت ملاله
د لوړ همت ملاله
د تکبیر ږغ یې په ښور راوړ هم صحرا هم دریاب

که نارینه خپل جهالت بولي د ښځو ګناه
پر دوی ستم کړي روا
خپل اخرت کړي په دې ډول خرافاتو خراب

ښځه خو مور ده چې زانګو د ټول جهان ځنګوي
د ژوند کاروان مخته وړي
د سپیڅلتوب او د پاکۍ د اسمانونو عقاب

ښځه ښکلا ده، ښځه مینه، ښځه راز د ژوندون
ساز و آواز د ژوندون
ده مرغلره چې ځلیږي تل په شان د مهتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه خو خور ده چي تل پام زموږ پر کور لري
زړه سوی پر ورور لري
د محبت ښکلي نغمه ده د هستۍ د رباب

ښځه خو لور ده چي خدمت د مور او پلار کوي
خیال د بیمار ساتي
فاروق نن حق لیکي د ښځي د مقام په باب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اي صنم

اي صنم ، اي صنم
ببله تا نه زه مرم
دلربا يې زما
محبوبا يې زما
بې وفا يې زما
تر سپوږمۍ ښايسته
د سرو ګلو غنچه
ته ليلا يې زما
زه شيدا يمه ستا
بې نوا تر هر چا
ته د ستوري په شان
ځای دي دی پر اسمان
زه مجنون پر صحرا
يم روان پر کوم خوا
سه زما رهنما
ته د عشق ترانه
د وصال افسانه
سه د ژوند مي رڼا
ترنم د دريا
واوره زما تمنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مې ښکل ستا لبان کړه
لمس مې ستا بارخوګان کړه
اوس پروا کړم د چا
که هرڅو شوم رسوا
خوار و زار بې نوا

د وصال خوږه شپه
څنګ پر څنګ ؤ ویده
خوب وخیال ؤ که دا
چې زه ناست یم تنها
زما نصیب شوه ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خور

پلوشه د لمر ختو ده خور زما
فرشته د اسمانو ده خور زما
خداي ورکړی نېک سيرت د ملايکو
ثمره د جنتو ده خور زما
په غرور کي عاجزي ورسره ښايي
حسادت د ميړنو ده خور زما
نښاني زموږ د مور د محبت ده
ښکلی راز د ښو قصو ده خور زما
تل په پټه خوله بيان خپل شکايت کړي
ښه نغمه د ترانو ده خور زما
د هيڅ چا سره يې جنګ او دعوا نشته
پټ يو ګنج د افسانو ده خور زما
که څوک آه کړي د دي اوښکي وي رواني
د ګرانښته پر لېمو ده خور زما
نازک زړه يې تل د بل په غم رنځور وي
تل دوا د زخمي زړو ده خور زما
مهربان زړه يې درياب د خواخوږۍ دی
خوږ پيغام د زمانو ده خور زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل ژوند کې یې څوک نه دی ازار کړی
یو سور ګل د سرو غنچو ده خور زما
خوشحالي او نیکمرغي ورله غواړم
ارمغان د ارمانو ده خور زما
هره هیله د زړګي به یې پوره کړم
ناز یې اخلم چې نازو ده خور زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختر

راز د ميني وي په سترګو کي عيان
ژبه نه غواړي د زړه د حال بيان

سره لاسونه په اختر په مخه درسي
توري سترګي، شنه خالونه ،سره لبان

نازکتل يې د اختر مبارکي سي
د تحسين سر ورته ټيټ کاندي جانان

پر زړه شور ،شونډي رپيږي، سترګي خاندي
په غورځنګ پر زړه د هيلو يو توفان

د اختر ورځ مو نېکمرغه لره ربه
راپوره د هر مېن د زړه ارمان

په نصيب مو بيا د سولي لوی نعمت کړه
سوکالي مېلمه پر کور د هر افغان
محبت پر زړونو راکړه ای خالقه
د کلونو مرور بېرته دوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قلم

دقلم په څوکه جنګ غېرت او ننګ دی زموږ
د ټوپک پر ضد جګړه وروستی جنګ دی زموږ

د پوهنې د رڼا خپرول پور دی پر موږ
ورورروژنه ،زور زیاتي ختمول پور دی پر موږ

د پوهنې پر ډېوې هر ځوان پتنګ دی زموږ
دقلم په څوکه جنګ غېرت او ننګ دی زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه سوغات

هغه به څومره نېک نصيب ولري
چې ستا په شان زړه ته قريب ولري

نېکمرغه ژوند به ورېخښلی وي رب
هغه چې ستا په شان حبيب ولري

صرف هغه ګل وي ستا د زلفو لايق
هزار داستان چې عندليب ولري

فاروق که ستا د مينې راز بيان کړي
داسې کلام به کوم اديب ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بوډۍ ټال

د ژوند هر ګام لوی غمونه راته جوړکړه
د هر غم شېبې کلونه راته جوړکړه
زما یوه سوال ته دي څو جوابه راکړه
هر جواب دي څو سوالونه راته جوړکړه
زړه بورا، د ګل طواف زما پېشه ده
د دښت بوټي سره ګلونه راته جوړکړه
پر اوربڅو راښکاره د بوډۍ ټال سوې
ستا یو رنګ اوه رنګونه راته جوړکړه
تل په ژوند کې مرګ څرګند وي
مرګ بنسټ د نوي ژوند وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ابدي مزار

په ژبه که بیان کړې دروغین انکار د مینې
د سترګو په کتو وایې سوچه اقرار د مینې

هم خپله ابتدا ، هم انتها د عشق د لارې
هم ناز ورکړې، هم اخلې بې پروا ازار د مینې

هم جام یې ،هم خلوت،هم یې نشه د مستو سترګو
هم وصل ، هم وعده یې او هم انتظار د مینې

یو ځل د عزرائیل ،بل ځل په شان د مسیحأ یې
هم روح اخلې هم بېرته کړې ژوندی بیمار د مینې

نن وایې چې سبا ، سبا دې بیا هم بل سبا وي
په تلو راتلو دې سترې مجرب رویبار د مینې

په زړونو کې دې ځای،ستا هر عاشق نن شاه جهان دی
پر هر زړه تاج محل جوړ ابدي مزار د مینې

فاروق به په کلام ښنګه بیان د زړه احساس کړي
د ګل په شان یې پټه خوله ښکاره اظهار د مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سالگره

نن روځ د خوشحالۍ ده، خوشحالي دي مبارک سه
نیکمرغه سالگره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

که منی که پسرلی ؤ زه او ته سره یو ځاي ؤ
اي زما د ژوند ښه دوسته دا دوستي دي مبارک سه
نیکمرغه سالگره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

د ژوند په سخت سفر کي ؤ موږ تل خوارډه ملگري
زموږ د ټوله عمر اشنايي دي مبارک شه
نیکمرغه سالگره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

که ډیر عمر مو تیر کړ په گوټ، گوټ د دي نړۍ کي
تل وي ته پښتنه، پښتونولي دي مبارک سه
نیکمرغه سالگره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

په ژوند کي که خوښي وه، ستونزي هم ورسره مل وي
پر ستونزو وي پیروزه، پیروزي دي مبارک سه
نیکمرغه سالگره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته زما د زړه د میني یوه ښکلي خاطره یي
دا مینه، محبت، مهرباني دي مبارک سه
نیکمرغه سالګره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

ته زما د ژوندانه د تروږمیو بل ځراغ یي
روښانه وسي تل، دا روښنایي دي مبارک سه
نیکمرغه سالګره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

په خوله که زه لږ وایم خو په زړه یي ډیره ګرانه
اي زما د زړه دلبره، دلبري دي مبارک سه
نیکمرغه سالګره ده، نیکمرغي دي مبارک سه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلیزه

د تعظیم په ښښه ټیټ شوه ټول ګلونه د ګلزار
نوی ګل دی غوړیدلی ستا د ژوند د نوبهار

په کالو کې نه ځاییږي له خوښیه پلار او مور
سالګرې ته چمتو کړي سوغاتونه ورور او خور
د ښادۍ په ساز تودیږي زموږ محفل کرار، کرار
نوی ګل دی غوړیدلی ستا د ژوند د نوبهار

که هر څو د خوشحالۍ شیبې تیریږي په شتاب
که د ژوند مېلې وي لنډې د اوبو د سر حباب
د کلیزې خاطره وي تل پر زړه باندې یادګار
نوی ګل دی غوړیدلی ستا د ژوند د نوبهار

خدایه راکړې نیک اولاد، دا ؤ ارمان د مور او پلار
په دوعا پورته لاسونه تل په لور د کردګار
رب قبوله زموږ دوعا کړه، منت بارېږي د دربار
نوی ګل دی غوړیدلی ستا د ژوند د نوبهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبارک دي وي و تاته شلم ګل ستا د شباب
ستا د ژوند د خوشحالیو دي هیڅ نه کیږي حساب
د جنت د فرشتو چي رب درکړی دی کردار
نوی ګل دی غوړیدلی ستا د ژوند د نوبهار

که هر څو کوو د ژوند په باب تاوده ، تاوده بحثونه
زما خوښ ستا نړۍ لید دی، ماته ګران دي ستا خیالونه
د خاړپوڅو هیوادهیر نه کړي چي ډیر دی خوار وزار
نوی ګل دی غوړیدلی ستا د ژوند د نوبهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستۍ هیله

## نموره شعرونه

داکتر غلام فاروق میراحمدي

2010 کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر غلام فاروق میر احمدي په **۱۹۵۹** م کال کې د فراه د ولایت د بلابلوک د ولسوالۍ د ګراني په کلي کې زېږېدلی دی. د ننګرهار د لېسې څخه فارغ سوی دی، د شوروي اتحاد د خارکف د ساختماني انجینرۍ د انستیتوت څخه یې د تودوخي - ګاز رسولو او تهویې په رشته کې د ماسترۍ دیپلوم تر لاسه کړی دی، په افغانستان کې یې د یو شمیر پروژو د کورتودولو، او ایرکاندیشن د شبکو د دیزاین او مونتاژ چاري سرته رسولي دي، بیا یې خپله Ph.D د اوکراین د جمهوریت د کیف په ساختماني پوهنتون کې د صنعتي هوا د پاکولو په برخه کې دفاع کړې ده، او س په المان کې د خپلې کورنۍ سره یو ځای ژوند کوي، دلته یې هم د تخصص د لوړولو په برخه کې بېلابېلې زده کړې پای ته رسولي دي. په **۲۰۰۵** م کال کې یې ( د سون تخنیک ) تر نامه لاندې یو کتاب ولیکی، په څو وروستیو کلونو کې یې د شعر او پښتو رمان لیکلو ته هم مخه وکړه، یوه د شعرونو مجموعه او یو رمان یې چاپ ته چمتو دي، په اوس وخت کې د خپل دوهم رمان په لیکلو بوخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر غلام فاروق میراحمدي په **۱۹۵۹** م کال کې د فراه د ولایت د بلابلوک د ولسوالۍ د ګراني په کلي کې زېږېدلی دی. د ننګرهار د لېسې څخه فارغ سوی دی، د شوروي اتحاد د خارکف د ساختماني انجینرۍ د انستیتوت څخه یې د تودوخي - ګازرسولو او تهویې په رشته کې د ماسترۍ دیپلوم ترلاسه کړی دی، په افغانستان کې یې د یو شمیر پروژو د کورتودولو، او ایرکانديشن د شبکو د دیزاین او مونتاژ چاري سرته رسولي دي، بیا یې خپله Ph.D د اوکراین د جمهوریت د کیف په ساختماني پوهنتون کې د صنعتي هوا د پاکولو په برخه کې دفاع کړې ده، اوس په المان کې د خپلي کورنۍ سره یو ځای ژوند کوي، دلته یې هم د تخصص د لوړولو په برخه کې بېلابېلي زده کړي پای ته رسولي دي. په **۲۰۰۵** م کال کې یې ( د سون تخنیک ) ترنامه لاندي یو کتاب ولیکی، په څو وروستیو کلونو کې یې د شعر او پښتو رمان لیکلو ته هم مخه وکړه، یوه د شعرونو مجموعه او یو رمان یې چاپ ته چمتو دي، په اوس وخت کې د خپل دوهم رمان په لیکلو بوخت دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**